# فرار مغزیان

المرصاد خپرندویه اداره

ALMERSAAD

# د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: فکري ارمغان

لیکوالان: بېلابېل

موضوع: د داعشي خوارجو رد، ديني، سیاسي، جهادي او د دېته ورته نور مختلف او بېلابېل موضوعات

ژبه: پښتو

ګڼه: دويمه

وړاندې کونکې: المرصاد خپرندويه اداره

ALMERSAAD

# فکري ارمغان

په معاصره نړۍ- په ځانګړې توګه په اسلامي هېوادونو
کې د روانـو سیاسي حالاتـو، د مسلمانانو په وړاندې د
نړېوالـو کفریا و صلیبي قوتونو له لوري د پلان شویو
شومـو پلانونو، احتمالي پېښو، ننګـوونو، رقـابتونو،
معاصرو فتنو، داعشي خوارجو او همداراز د نـورو نویو
باطلو پدیدو، افکارو او خوځښتونو په اړه

د بېلابېلو اسلامپالـو لیکوالانـو، جیدو دیني علماوو،
محللینو او شنوونکو د مختلفو دیني، تاریخي او
سیاسي څېړنو، تحقیقاتو، مقالو او آثارو

## ټـولـګـه

دویمه ګڼه

# لیکلړ


| شمیره | | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د المرصاد مهالنۍ تبصره | ۱ |
| ۲ | پـه افغانسـتان د بنديزونـو د څـار کمېټـه کـه د سـيمې د هېوادونـو د اغفـال يوه وسيله؟ | ۱ |
| ۳ | لومړی فصل | ۴ |
| ۴ | د امت نوميالي | ۴ |
| ۵ | د حافظ نعمت الله نيکمل ژوند او مبارزې ته لنډه کتنه | ۵ |
| ۶ | د شهيد توحيدالله سليمان (منصوري) تقبله الله ژوند او مبارزې ته لنډه کتنه | ۹ |
| ۷ | دويم فصل | ۱۱ |
| ۸ | خوارج العصر | ۱۱ |
| ۹ | د خوارجو په وړاندې د مسلمانانو مکلفيت | ۱۲ |
| ۱۰ | نه بايد د داعش په وړاندې چوپ پاتې شو! | ۱۴ |
| ۱۱ | د داعش کاذب خلافت ته؛ د ځوانانو د جلب و جذب طريقې! | ۱۷ |
| ۱۲ | داعش د اسلامي شعايرو ختمونکي | ۲۰ |
| ۱۳ | په بېلا بېلو موضوعاتو کې د داعش خپلمنځي اختلافات | ۲۲ |
| ۱۴ | درېيم فصل | ۲۴ |
| ۱۵ | ديني او جهادي ليکنې | ۲۴ |
| ۱۶ | د اسلامي امارت د محاکمو د پرېکړو معيار | ۲۵ |
| ۱۷ | اسلامي امارت يو بېلګه ييز نظام! | ۲۹ |
| ۱۸ | په اوسني دور کې د اسلام د بقاء حالت! | ۳۱ |

| شمیره | | مخ |
|---|---|---|
| ۱۹ | شهادت د حریت، او ازاد ټولنیز ژوندانه یوازینی راز | ۳۴ |
| ۲۰ | څلورم فصل | ۳۵ |
| ۲۱ | سیاسي او ټولنیزې لیکنې | ۳۵ |
| ۲۲ | د I.I.I د بالمثل سیاست غوښتونکی دی! | ۳۶ |
| ۲۳ | تحریک طالبان پاکستان د افغانستان ستونزه ده که د پاکستان!؟ | ۳۸ |
| ۲۴ | ټرمپ د ډانګ او پړانګ تر مینځ! | ۴۴ |
| ۲۵ | د هر شر ریښې تر تاسو در رسي | ۴۶ |
| ۲۶ | د پاکستان او امریکا ګډ پوځي تمرینات! | ۴۸ |
| ۲۷ | سایبري جګړه؛ له خیالاتو تر حقیقتونو! | ۵۰ |
| ۲۸ | د اسلامي امارت معتدل سیاست! | ۵۳ |
| ۲۹ | تېر شل کلن اشغال او ناوړه اثرات یې | ۵۵ |
| ۳۰ | په پاکستان کې روانه بد امني د پوځ د ناکامو پالیسیو پایله ده! | ۵۶ |
| ۳۱ | په امریکا کې د بشپړ امنیت د شتون په اړه ناسم روایتونه! | ۵۸ |
| ۳۲ | امریکا د نړۍ تر ټولو نا امنه هیواد | ۶۰ |
| ۳۳ | پنځم فصل | ۶۱ |
| ۳۴ | بېلابېلې لیکنې | ۶۱ |
| ۳۵ | د شر و فساد او داعش خوارجو ترمنځ مشترکه وجه | ۶۲ |
| ۳۶ | له انسي خدایانو باغي ملته! آزادي دې تاته مبارک وي! | ۶۴ |
| ۳۷ | سایبري جګړې او پایلې یې ! | ۶۶ |
| ۳۸ | مسؤلین: د داعشي خوارجو له بهره پلان شویو بریدونو کې شهادتونه به مو ږ کمزوري نه کړي | ۶۸ |

## د المرصاد مهالنۍ تبصره

### په افغانستان د بندیزونو د څار کمېټه که د سیمې د هېوادونو د اغفال یوه وسیله؟

په افغانستان د ملل متحد په بندیزونو د څار کمېټه په پرلپسې توګه په افغانستان کې د ألقاعده او ځینو نورو ډلو د مراکزو د شتون او د فعالیتونو د پراختیا راپورونه نشروي.

د دې ډلې د اطلاعاتو د راټولولو مېکانېزم داسې دی چې غړي یې مختلفو هېوادونو ته سفر کوي، هغوی چې کوم معلومات ورکوي دوی یې د خپل راپور په هغه پوده چوکات کې ځای پر ځای کوي چې د بندیزونو له لومړیو کلونو څخه یې جوړ کړی.

دا ډله اوس ددې پر ځای چې حقائق نشر کړي، ځینې غړي هېوادونه یې د خپلو اهدافو لپاره کاروي او داسې مصنوعي له دروغو ډک اطلاعات ورکوي چې دې هېوادونو ته د نورو هېوادونو او ټولنو پر ضد په سیاسي او رواني برخه کې د مطلوبو اهدافو د حصول سبب وګرځي.

دې ډلې ته پاکستان او تاجکستان چې د افغانستان دوه ګاونډي هېوادونه دي، په افغانستان کې د ألقاعدې او نورو ډلو د شتون او مراکزو په اړه په پرلپسې توګه ناسم معلومات ورکوي او دا ډله یې نشروي.

ممکن دې ډلې ته د ځینو نورو مؤثرو جهتونو له لوري په دې برخه کې شین څراغ ورکول شوی وي. سره له دې چې دا مؤثر جهتونه د دوی په راپور هېڅ باور نلري.

پوښتنه داده چې د دې تبلیغاتي لوبې تر شا کوم اهداف دي؟

ألمرصاد د خپلو سرچینو له قوله داسې معلومات ترلاسه کړي چې د پاکستان او تاجکستان تر منځ د استراتیژیکو همکاریو په تړون کې یو مهم ټکی د پاکستان په شمال غرب ګلګت، بلتستان او چترال کې د داعش د پروژې نوي مراکز دي چې دوی به د دې مراکزو له لوري هڅه کوي چې د افغانستان شمال شرق ته نفوذ وکړي.

چین، د منځنۍ آسیا هېوادونو او روسیې ته یو لړ تشویشونه ایجاد کړي او د فشار په سیمه ییزو لوبو کې پخپله نفع او په نړیوالو لوبو کې د غرب په نفع له دې نوې لوبې

ځخه کار واخلي.
پخپلـو نفعـو کـې یـو هـم د چیـن او افغانسـتان تـر منـځ د واخـان د اقتصـادي دهلېـز او لـه اسلامي امارت سره د زیاتېدونکي مثبت رسمي تعامل مخنیوی دی.
د تېر جمهوریت لـه فـراري چاروا کـو سـره پرلپسـې تماسـونه، پـه کلکـت بلتسـتان کـې د یـوې نـوې هوایـي اډې جـوړول، د تروریـزم ضـد عملیاتـو تـر نامـه لانـدې تمرینـات، غـرب تـه د پاکسـتاني اسـتخباراتي او پوځـي چارواکـو سـفرونه، لـه تاجکسـتان سـره د غـرب زیاتېدونکـې نـږدې اړیکـې، د پاکسـتان او تاجکسـتان تـر منـځ د اسـتراتیژیکو همکاریـو تـړون او پـه افغانسـتان کـې د بریدونـو اخطارونـه هغـه هڅـې دي چـې دد ې موخـې لپاره ترسره کېږي.
ألمرصـاد تـه د خپلـو کـره امنیتـي سـرچینو لـه قولـه داسـې راپوروونـه رسـېدلي چـې همـدا اوس د پاکسـتان پـه بلوچسـتان ایالـت کـې کـڼ شـمېر تاجکسـتاني، آذربایجانـي، ترکـي او د منځنـی آسـیا او ځینـو نـورو هېوادونـو اتبـاع تـر روزنـې لانـدې دي او د سـیمې پـه ډېـرو هېوادونـو کـې د بریدونـو د تنظیـم لپـاره نـوې هسـتې رامنځتـه شـوې او پـه فعالیـت یـې پیـل کـړی او د دې لپـاره چـې د سـیمې هېوادونـه د خپـل امنیـت لـه اصلـي مسـیر ځخـه منحـرف او اغفـال کـړي، پـه بندیزونـو د ځـار لـه کمېټـې ځخـه د یـوې وسـیلې پـه توګـه کار اخلـي او پــه افغانســتان کــې د ألقاعــده د مراکــزو او فعالیــت د شــتون مصنوعــي او کاذب راپوروونـه پـرې خپـروي او لـه دې لارې غـوارې پـه سـیمه ییـزو او نړیوالـو لوبـو کـې یـو لـړ اهـداف لاسته راوړي چې ځینو ته یې مخکې اشاره وشوه.
چیـن، روسـیه او د منځنـی آسـیا هېوادونـه بایـد پـه کـډه دې نـوې خطرناکـې لوبـې تـه رسیدګي وکړي.
بلوچسـتان تـه د خراسـان د ځانګـې د پلازمینـې، کلکـت بلتسـتان تـه د داعـش د لښـکر د تجمـع او تاجکسـتان تـه د داعـش د افـرادي قـوت د تمویـل او تولـی د نـوو مراکـزو پـه سـترګه وګـوري او پـه همـدې اوصافـو یـې پـه رسـمیت وپېژنـي او کـه سـیمه متوجـه نشـي، ممکـن د داعـش د پـروژې د کاروونکـو لـه لـوري لـه خطرناکـو پایلـو سـره مـخ شي.
حقیقـت دادی چـې پـه افغانسـتان کـې ألقاعـده هېـڅ ډول شـتون نلـري او نـه یـې کـوم مراکـز شـته. نـه پـه حکومتـي ارګانونـو کـې کـوم بهرنـي اتبـاع کار کـوي او نـه پـه

تېرو ۲۳ کلونو کې له افغانستان څخه په هېڅ بهرني هېواد کې برید تنظیم شوی او سرته رسېدلی.

د پرمختللې تکنالوژۍ په اوسنی نړۍ کې د داسې څه پټول ډېر ګران دي. د داسې راپورونو په نشر یوازې د ملل متحد په بندیزونو د څار ډله خپل باور او حیثیت له لاسه ورکوي.

# د اسلامي امارت پر ضد غربي تبلیغات - حقیقت څه دی؟

غربي رسنۍ او نړیوال قوتونه د اسلامي امارت پر ضد بې‌اساسه تبلیغات کوي، تر څو اسلامي نظام بدنام کړي. دوی د آزادۍ، بشري حقونو او پرمختګ تش شعارونه ورکوي، خو حقیقت دا دی چې اسلامي امارت په افغانستان کې امن، ثبات او د شریعت پر بنسټ یو عادلانه نظام قایم کړی. دښمنان کله د ښځو د حقونو، کله د تروریزم، او کله د اقلیتونو د مظلومیت پلمې جوړوي، خو اسلامي امارت د خلکو د ملاتړ او شرعي اصولو ته د ژمنتیا له برکته دا ټول دروغ ثابت کړي دي. اوس د امت مسلمه مسؤولیت دی، چې د دې غربي توطیو پر ضد رېغ پورته کړي او د اسلامي نظام پر ضد روانه رسنیزه جګړه په مؤثره توګه دفع کړي!

# لومړی فصل
# د امت نوميالي

## د حافظ نعمت الله نيكمل ژوند او مبارزې ته لنډه كتنه

د ويښ ضمير، سپېڅلې عقيدې او نبوي اخلاقو نمونه؛ شهيد، سعيد حافظ نعمت الله (نېكمل) د مستري صاحب سيد غلام زوی په ١٣٧٤ هـ ش كال د وردكو ولايت، د سيداباد ولسوالی، د شنيز شهيد پروري درې، د ملي خېلو د كلي په يوه جهاد پاله، ديندراه او پتمنه كورنۍ كې، دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې.
لومړۍ ديني زده كړې يې، په خپل كلي كې د مسجد له امام څخه وكړې، له كوچنيوالي څخه د لمانځه، جماعت او عبادت ډېر پابند و، په ډېر كم عمر كې مدرسې ته لاړ او د قران عظيم الشان په حفظ يې پيل وكړ، دا چې ربّ العباد ددې ستر مقام ورسره كړي و، ډېر ژر يې په ١٣٩١ هـ ش كال كې د قران عظيم الشان د حفظ وياړ ترلاسه كړ.
د حفظ ترڅنګ يې خپلو ديني زده كړو ته دوام وركړ، خپل ټول عمر يې په يوه معصوم، پاك او سپېڅلي محيط (مدرسه) كې تېر كړ، چېرته چې د الله ﷻ قانون تدريس او پر نړۍ يې د اِقامې، او د نفاذ په پار څوان قشر روزل كيږي.
دا چې هېواد د كُفري اشغال تر والكې لاندې و، د اُمت مسلمه د بې لارۍ په پار پلانونه پلان كېدل او د طاغوت په لور رهبري كېدل.
نېكمل هم د څوانۍ مرحلې په درشل كرار، كرار قدم اېښوده، د دوی وحشي كړنې يې څارلې، نور يې د صبر كاسه ډكه شوې او تم كېدل ورته د اُمت مسلمه پر لمن تور داغ ښكارېده، همدا و چې د طاغوت پر وړاندې يې له مدرسې څخه په پټه توګه جهاد پيل كړ.
شهيد نيكمل تقبله الله يو با استعداده، زړور او با تجربه مجاهد وو. د زيات صبر او استقامت له وجهې په ملګرو كې شهرت درلود.
د جهادي ژوند په دوران كې يې په زيات شمېر چاپو، بمبارونو، كمينونو او تعروضونو كې شركت درلود، ښه په مېړانه يې سنګر وپاله.
يو ځل سخت ټپي شو، د يوسف خېلو زوړ كلی، چې د تېر شل كلن اشغال په اوږدو كې يې اوسيدونكي له كورونو څخه كډه شوي وو. كورونه ړنګ دروازې ماتې هرې خواته د لګيدلو مرميو نښې له ورايه ښكاريدلې.

په د کلي کې د سرك غاړې ته په يو کور کې د اجيرو ځواکونو پوسته پرته وه، موږ په ياده پوسته باندې د لايزر په واسيطه عمليات کول. عمليات خوندور تر سره شول شپې خطرناکې وې، يو خوا د ژمي موسم و، واوره وريدلې وه، سخت يخ و او بل خوا د چاپې جهاز، ډرون او همدا رنګه نورو خطرونو د پيښيدو ويره وه، غوښتل مو هسې زر له ساحې څخه ووزو، موږ د راوتلو په حال کې وو،

د يو رنګ کور په مابين کې د دمې (استراحت) لپاره کښيناستلو نيکمل او دوه نور ملګري د کور په يوه دوربچه کې ور ولاړ وو، تر څو د جنګ اوضاع وګوري، زه د دوی شاته ناست وم، چې يو کړسنده غږ مې تر غوږو شو او د الله اکبر ناره مې واورېدله، ګورم چې يو کس شاته را ولوېد ورمنډه مې کړه، ماويل کوم يو دی ! يو ملګري غږ وکړ، نيکمل دی هلئ پورته کړئ ! را اوچت مو کړ، تريو ځايه ما په شاکړی و، يو جومات ته ورسېدو شپه تياره وه، د جومات برق مو روښانه کړ، سترګې يې راواړولې، ويل يې: مرګو لکه چې تنها پاتې شوئ ! ! !

لږ وروسته د صحي ځانګې مسولين ملګري هم را ورسېدل چون زخم يې د سينې په ښي طرف کې و، وينه يې بوله داخل ته تلله، د عاجلې تداوی لپاره مو د تنګي د شفاخانې په طرف حرکت وکړ، د اونخي د غره ( غاښي ) لاره بنده وه، مجبور وو؛ چې د جغتو په لاره ولاړ شو.

لاره اوږده وه، څو ځله بيهوشي پرې راغله روغتون ته نيږدې وو بيا په هوش کې راغی، له حسرته ډکې سترګې يې را واړولې، په غريو نيولي غږ يې ويل: هغه مور به مې ژړه ترکه شي ! ! ! دا يې هغه پتمنه ❊مور❊ يادوله چا چې يو بل د نښتر په څېر زوی د الله ج دين ته قرباني کړی و، له د خبرې وروسته بيا بې هوشه شو، دا مهال روغتون ته رسيدلي وو.

داکتران راغلل عمليات خانې ته يې د ننه کړ. د الله ج په نصرت سره يې عمليات کامياب شو او له يو څه وخت بستر وروسته نيکمل روغ رمټ بيا ګرمو سنګرنو ته راستون شو او د پخوا په نسبت څو چنده يې په پياوړې ارادې او قوي عزم سره مبارزه پيل کړه.

په زخمي حالت کې يې موږ ته د روژې په مياشت کې، د قرآن کريم ختم راکاوه، کله، کله به يې زخمونو داسې درد ورته کاوه، چې د جماعت ورکولو په حالت کې به يې غږ، خپ ( تيټ ) شو چې سم به نه اورېدل کېده.

د جهاد د لارې ستونزې او کړاوونه يې په سره سينه زغمل، تر هغه پورې چې په افغانستان باندې اسلامي نظام قايم شو، اولس د آرام سا واخيسته، خو شهيد نيکمل تقبله الله له ليندی څخه د وتلي غشي په څېر د بيا را ګرځېدو تمايل نه درلود، د اسلامي نظام په نظامي تشکيلاتو کې د لسم رياست په عملياتی قطعه کې د يوه ګروپ مسوليت ورکړل شو، خو شهيد نيکمل تقبله الله د يو سرسپارلي سپاهي په صفت د الله عزوجل د دين د دښمنانو او خوارجو په ځپلو پسې مخه کړه، په ډېره کم وخت کې يې په خورا زياتو عملياتو کې برخه وا خيسته او زيات شمېر خوارج يې مردار او د خپل عمل په سزا ورسول.

او د وروستي ځل عملياتو قيصه يې يو ملګري داسې کوله:

کله چې داعش خوارجو (کلاب نار) يو تنکی مجاهد شهيد مصباح جان په ډېر ظلم او وحشت په شهادت ورسولو او بيا يې ويډيو په انترنيت خپره کړه، تر څو د مجاهدينو په منځ کې ويره خپره کړي، نو د اسلامي امارت ځيرکو استخبارتو د کشفي راپورونو په اساس د دغه پليتې ډلې تعقيب شروع کړ، لومړی يې د مزار شريف په ښار کې پرې چاپه وه وهله، په کور ( پټنځای ) کې موجود خوارج يې د جهنم کندې ته تيل وهل، ځينو چې له نورو ولايتونو څخه يې رابطې ورسره کولې، هغوی هم تر تعقيب لاندې وو.

نو په همدې اساس زمونږ قطعې هم د مزار شريف په طرف حرکت وکړ، د ټولو ملګرو په زړونو کې د انتقام جزبې په څپو وې، په مزار شريف کې د يوې ورځې لپاره پاتې شوو، لامو دمه نه وه جوړه شوې، چې له مرکز څخه يې خبر را کړ، چې د بغلان ولايت په طرف حرکت وکړئ ! هلته د دواعشو خوارجو ځاله کشف شوې او عمليات پرې روان دي، په بيړه مو حرکت وکړ، په ډېر کم وخت کې مو ځانونه بغلان ولايت ته ورسول، کله چې د جنګ سهنې ته ور ورسيدو خوارج تر کلکې محاصرې لاندې و. له مونږ څخه يې د فدايانو ملګرو غوښتنه وکړه، ترڅو د خوارجو کور ته بوشکې ( ماينونه ) يوسي، هلته انفجار ورکړي او موانع له منځه يوسي، شهيد نيکمل تقبله الله او دوه نور ملګري تيار شول، بوشکې يې واخيستې، کور ته يې انفجار ورکړ او کور ونړيده، يو څه حصه يې جوړه پاتې شوه او له هغه څخه يې مقاومت شروع کړ.

شـهيد نيـکمل تقبله الله خپل ځای ته راغی او راکټ يې ورسـره واخيسـت او په هغه ځای يې فير وکړ، هغه ځای په دوړو کې پټ شو، نيـکمل او ورسره دوه نور ملګري هغه ځای ته مخامخ ولاړ وو، له هغه ځای څخه يې ليدلي او په نښـه کړي وو، يوه خونړۍ زړ به يې پرې را وکره، په دې زړبې سره دری واړه کلان په خړو خاورو کې را پرېوتل.

لـه کلونـو سترې مبـارزې وروسـته د ۱٤٤۳ هجـري کال د ذولحجـې مياشـتې پـه ۲٤ نېټـه چـې د ۱٤۰۱ هـ ش کال د اسد مياشتې لـه ۲ سـره برابـره ده، د بـغلان ولايت پلخمـري ښـار کـې د داعشـي خوارجـو پـه يـو پټنځـای د علمياتـو پـه جريـان کـې لـه ۳ تنـه ملـګـرو سـره يـو ځـای د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. نحسبهه کذالك والله حسيبه

شهيده کوژده.

شهيد نيکمل په داسې يوه ورځ خپل روح بادار ته سپاري چې کورنی يې د کوژدې لپاره او خالق ذات جل جلاله ورته د شهادت لپاره انتخاب کړې وه، د ده د شهادت د خبر په هکله يې ورور داسې کيسه کوي: ماسپښين و د لمر وړانګو وزرې تولولې، په کور کې مو که څه هم د مشر شهيد شوي ورور غم او خپګان موجود و، خو د نوې ښادۍ لپاره مو نهايت زياته خوښي څرګنده وه، ټولې خويندې مو کور ته راغلې وې همدې ته انتظار وو چې لاړشو د دوو پاکو زړونو ترون لاسليك کړو، ځوانيمرګ نيکمل ته دسمال راوړو، موبايل مې له جيب څخه را واخيست او د نيکمل نمبر مې ډايل کړ، له ځنډ وروسته يې ملګري ځواب راکړ، چې نيکمل ويده دی ما ټينګار وکړ، چې بايد خبرې ورسره وکړم، له ځنډ وروسته يې په ورخطاء غږ راته وويل: نيکمل شهيد شو.

نـه پوهيـږم چـې دا صحنـه بـه پـه مـا څـه ډول تېـره شـوې وي لاړم اودس مـې وکـړ، قرآنکريـم مـې را واخيسـت او تلاوت مـې شـروع کـړ، د مـور پلار کورنـۍ لپـاره مـې د جميـل صبـر دعاګانـې وکـړې، وجـود مـې لـړزه کولـه، بنـه مـې الوتـې وه، حـرکات مـې لـه واکـه ووتـل، د کـور غـږې روان و د يـو شـهيد شـوي ځوانيمـرګ ځـوان د کـوژدې دسـمال يـې راوړلـو، مـا د زړه د ناروغـۍ بهانـه وکـره، چـې زړه مـې درد کـوي تاسـو لـږ صبـر وکـړئ، شـېبه نـه وه تېـره شـوې، چـې د چورلکـې غـږ شـو، ناڅاپـه د کـور پـه انګـړ را کـوزه شـوه او د شـهيد نيکمـل جنـازه يـې را ښـکته کـره، هغـه صحنـه چـې وروسـته لـه دې زمونـږ پـه کـور کـې پـه مـور، پلار او خوينـدو تېـره شـوه، زه يـې نشـم تعبيرولـی داسـې ماتـم جـوړ شـو، چې دې کـرېکو او ساندو انګازې آسمانونو ته پورته شوې.

## د شهيد توحيدالله سليمان (منصوري) تقبله الله ژوند او مبارزې ته لنډه کتنه

د انقلاب تُندو څپو د هېواد لوړې او ژورې لړزولې، ځوانانو خپل بخت د وروستي آزمون لپاره آزمايه، تولو هڅه کوله چې د الله جل جلاله تر ديداره ځان تر نورو وړاندې ورسوي. مګر دا دومره آسانه نه وو، په ستونزو پوښلي له کړاوونو سره مل او د سکروټو په سرونو د عقيدوي قوت مزل وو. د مجاهدينو تُندو بريدونو دُښمن پر کونډو کاوو، فتحې ته لا وخت پاتې وو، چې ځينو د الهي مينې په سمندر کې غوټې وهلې، د فردوس مرمرينو ماڼيو ته تلل، د شپې خوبونه يې د جنة النعيم په باغونو کې د رنګارنګ ميوو لاندې په مرمرينو قالينو کول وو.

هوکې؛ دوی داسې زلمي وو چې هر ګوزار يې لکه د حضرت علي رضي الله عنه شمشېر، دُښمن تر پښو ځيرې کاوو. د داسې شازلميو له جملې څخه يو هم شهيد توحيد الله سليمان "منصوري" تقبله الله وو.

شهيد توحيد الله سليمان (منصوري) تقبله الله د قومندان عبدالغفور زنداني زوی په 1374 کال کې د لغمان ولايت مرکز کچور شمتي کلي کې دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې.

د استشهاد نوماند شهيد آمر سليمان منصوري تقبله الله يو له هغو ننګياليو غازيانو څخه و، چې د حق د لارې د ځان ځاروونکو غازيانو مل و، د خپلې بريا لپاره يې د انتظار شېبې شمېرلې، ساعتونه په ورځو، ورځې په اونيو او بالاخره کلونه تېر شول، خو د شهيد سليمان تقبله الله د زړه آرمان بشپړاوي ته لا وخت پاتې و.

په همدي انتظار وو، چې کله به د مظلومې مورکۍ او اسيرو زلمکيو د مظلوميت غږ ته سکون ورکړي،

او همغه لار؛ چې د مسير مله ملګرو يې د خپلو وينو په نذرانه را پاللې وپالي.

هوکې! دوی پر خپلو کړو ژمنو وفا وکړه؛ ځکه يې نو قربانۍ، سرښندنې، او ستړياوې د رب العالمين په دربار کې قبولې شوې، هېواد مو د فتحې په خوشبو معطر شو، ځوانانو د آرام ساه واخيسته، مجاهدينو دا بريا د رب العالمين فضل وګڼه.

شهيد سليمان منصوري تقبله الله د جنګ له ميدانه وروسته کېدل نه غوښتل، د

اسلامـي نظـام د بقـا او پايښـت لپـاره يـې د ژونـد ټـول خـواږه وقـف كـړي وو، د بهـادرۍ او مېړانـې دې غښـتلي سـپاهي هـر وخـت د اعـداد پـه مراكـزو كـې وخـت تيـراوو، پـه خپـل رهبريـت كـې صاديـق او زړور و، څـو ځلـه د اشـغالګرو لـه سـختو چاپـو، شـديدو جګـړو او بمباريو الله جل جلاله، بريالی او سـرلوړی ويسـتو.

تـل بـه يـې لاسـونه د سـپيڅلي رب جـل جلالـه پـه دربـار كـې لپـه كـړي ول، د شـهادت سـوال او زارۍ بـه يـې ورتـه كولـې، الله جـل جلالـه تـه د ده دا زارۍ دومـره محبوبـې شـوې، چـې په كلونو-كلونو يـې منتظر پاتې كړ.

د انتظـار پـه همـدې شـېبو كـې د شـهادت د لټـون لپـاره، د كنـړ ولايـت هسـكو او دنګـو غرونـو تـه، د داعشـي خوارجـو ښـكار تـه ورغـی، موخـه يـې د سـپيڅلي رب جـل جلالـه رضـا، د داعشـي فتنـه ګـرو لـه شـرارته د مُسـلمۀ اُمـت خلاصـون، او لـه پـاك سـبحان سـره د خپلـې كـړې وعـدې پـوره كـول وو، چـې د اسلامـي نظام د اعـادې پـه دې مقدسـه لاره كې بـه د خپل ځان په قربانولو اخروي سـعادتونه را خپلوي.

د كايناتـو خالِـق يـې د زړه دواړه ارمانونـه ور پـوره كـړل، د داعشـي فتنـه ګـرو شـرارت له مينځه لاړه،

او پر ځمكه الهي، اسلامي قانون نافذ شـو، د شـهادت ارمانجن شـهيد سـليمان منصوري تقبلـه الله، د كنړ په غرونو كې، ښـه زيات داعشـي خوارج ووژل، لـه ډېر ځنډ، جهاد او هجرت ورروسـته بالآخره، لغمان ته ډك لاسـونه راسـتون شـو، مګـر د دُښمن د ځاركړو الوتكو او جاسوسـي غلامانو تر سخت ځار او څېړنې لاندې و.

د دُښـمن لـه مغـروره غتـې قـوي سـره پـه ۲۲/۲/۱۳۹۹ د رمضـان المبـارك پـه اتلسـمه نېټـه، د لغمـان ولايـت عليشـنګ ولسـوالۍ اړونـد د كونجكـي پـه سـيمه كـې، پـه مخامـخ جګـړه كـې وركښـېوت؛ د دُښـمن د مغـرورې قـوې ۲٤ ټانكونـه او تقريبـا تـر ۱۰۰ لـوړ او ټيـټ رتبـه عسـكر او جنـرالان د سـنګر د غازيانـو د راكيـټ او ثقيلاتـو ښـكار شـول، د فتحـې پـه اخيـري مرحلـه كـې، د امريكايـي ډرون الوتكـې پـه بريدونـو كـې اتـل مجاهـد شـهيد اميـر سـليمان منصـوري تقبلـه الله لـه خپلـو دوه تنـو غيـرت پالـو ملګرو سـره يو ځای د شـهادت لوړ مقام ته ورسېد.

نحسبه كذالك والله حسيبه.

# دويم فصل
# خوارج العصر

# د خوارجو په وړاندې د مسلمانانو مکلفیت

لیکنه: فاروق خراساني

د خوارجـو پـر وړانـدې د مسـلمانانو دریـځ پـه اسلامـي تاریـخ او شـریعت کـې پـه ښـه توګـه روښـانه شـوی دی، خـوارج هغـه ډلـه وه چـې د اسلام لـه اصلـي تعلیماتـو څخـه منحرفه شـوې وه او افراطیت یې خپراوه.

پـه اسلامـي لارښـوونو کـې خـوارج د تاوتریخوالـي او سـخت دریځـۍ لـه املـه غنـدل شـوي دي او د دوی کړنې د اسلامي ارزښـتونو پر ضد ګڼل شـوې دي.

دا احتمـال ډېـر کـم دی، چـې خـوارج دې د اسلام اصلـي تعلیماتـو تـه غـاړه کېښـېږدي؛ ځکـه چـې د دوی بنسـتیز باورونـه او طـرز – فکـر لـه اصلـي اسلامـي لارښـوونو څخـه ډېـر لـرې و، دوی افراطـي، سـختدریځه او تنـدلاري عقایـد لـرل او پـه خپلـو کړنـو کـې یـې تاوتریخوالـی او سـخت چلنـد غـوره کـړی و، چـې پـه پایلـه کـې یـې د بـې ګنـاه خلکـو وینې تویولې.

د اسلام د تاریـخ پـه تـرڅ کـې مسـلمانانو هڅـه وکـړه چـې خوارجـو تـه د اسلام معتـدل او سـم مفاهیـم وړاندې کړي، خو د دوی ډېـری پلویانو رد کړل.

د خوارجـو فکرونـه دومـره ژور و چـې دوی ځانونه له نورو مسـلمانانو پورته او برحق ګڼل او هـر څـوك چې د دوی له عقایدو سـره موافق نه وو، دوی د ایمان لـه داېرې بهر بلل.

د دودی د افراطـي دریـځ او فزیکـي شـتون پـه وړانـدې، مسـلمان مکلـف دی، تـر څـو د شـریعت په چوکاټ کې لاندې قدمونه واخلي.

**١ د حق لارې تـه بلنه:**

مسـلمانان مکلـف دي، چـې خوارجـو تـه د نرمـۍ او حکمـت لـه لارې د اسلام اصلـي لارښـوونې او معتـدل دریـځ ور وښـیي؛ کـه د خـدای خوښـه شـوه او دوی د پوهـې او منطق لـه لارې قناعـت وکـړ، نو دا غوره حل دی.

**٢ لـه تاوتریخوالـي څخـه د مخنیوي هڅه:**

خـوارج پـه خپلـو عقایـدو کـې افراطـي دي او تاوتریخوالـی خپـروي، لیکـن اسلام مسـلمانان لـه بـې ځایـه تاوتریخوالـي منـع کـوي؛ نـو پـکار ده چـې د خوارجـو پـر وړانـدې هم لومړی هڅه باید دا وي چې د سـولې له لارې حق ته دعوت شـي.

### ۳ د جنګ له لارې يا حق پرې ومنل شـي او يا ووژل شـي:

دا هغـه صـورت دی، چـې خـوارج پـه تاوتريخوالـي لاس پـورې کـړي او امنيـت تـه ګـواښ پېـښ کـړي، لکـه نـن چـې پـه افغانسـتان کـې د دوی يـوې ډلـې (داعـش) حـق تـر پښـو لاندې کړی دی او د مسـلمان په ناحقه وژلو ته يې کار ويلی.

په دې صـورت کـې هـر مسـلمان او د اسلامـي نظـام امنيتـي ارګانونـه کلـك مکلـف دي، ترڅـو د مسـلمانانو د امنيت او ثبـات لپـاره، د اختلافاتـو د مخنيـوي لپـاره او د اسلامـي نظـام د تحفـظ لپاره د جنګ له لارې يـاده فتنه دفع کړي.

په دې اړه د حضـرت علـي رضی الله عنه دوره هم يادېدلای شـي؛ کله چې خوارج د جګړې او فتنـې سـبب وګرځېدل، نو علي رضی الله عنه د دوی پر وړانـدې نظامي اقدام وکړ.

د دوی افراطـي نظريـات د اسلامـي اخلاقـو او معتـدل فکـر پـر ځـای د تعصـب، کرکـې او سـختدريځۍ انګيـزې خپـروي، کـه دا فکـر پـه ټولنـه کـې خپـور شـي، نـو خلـك بـه د ديـن له اصلي روح څخه لرې او د سختدريځۍ پر لور مخه کړي.

په همدې اسـاس ويلای شـو، چې که (خوارج) همداسـې بې کنټروله پرېښـودل شي، نو د اسلامي امت ديني، ټولنيز او فکري جوړښت ته ترې جدي ضرر رسـېدلی شـي؛ څکه خو اسلامي تاريخ کې د خوارجو پر وړاندې د مبارزې لپاره جدي اقدامات تر سـره شـوي هم دي، ترڅـو د امـت يووالی، امنيت او پرمختګ خوندي پاتې شـي.

خـوارج د اسلام پـه جامـه کـې د امـت دښـمنان دي، چـې د ناپوهـۍ، افـراط او تکفيـر پـه وسـيله د مسـلمانانو وينـه تويـوي. لـه دوی څخـه د خلاصـون يوازينـۍ لار د علـم، بصيـرت او اعتـدال پيـروي ده. د علمـاؤ لارښـوونو تـه غـوږ ونيسـئ او د دې فتنـې لـه شـر څخـه ځانونه خوندي کړئ!

# نه بايد د داعش په وړاندې چوپ پاتې شو !

**ليکنه: احمد هشام الکردي**

داعش په حقيقت کې يوه افراطي ډله ده، چې د خپلو ناوړه اعمالو په سبب د اسلامي امت لپاره ډېره زيانمنه ثابته شوې؛ دوی د اسلام له اصلي او معتدل پيغام څخه په غلطه استفاده کوي او خپلې سختدريځې کړنې د اسلام په نامه توجيه کوي، چې له کبله يې د امت لپاره لوی زيانونه رامنځته کېږي.

د داعش کړنې يوازې په اسلامي نړۍ کې دننه محدودې نه دي؛ بلکې په ټوله نړۍ کې د اسلام او مسلمانانو د تصوير بدنامولو لامل ګرځېدلې، د دوی د سخت دريځی له امله د اسلام نړيواله پېژندنه د افراطيت او تاوتريخوالي سره تړل شوې، د مسلمانانو ترمنځ وحدت او يووالی کمزوری شوی، ډېری اسلامي هيوادونه د جګړو، ناامنی او بې ثباتی سره مخ شوي او په سيمه کې د پرمختګ، زده کړو او اقتصادي پرمختيا لارې تړل شوې دي.

په همدې دليل داعش د اسلامي امت د پرمختګ، سولې او ثبات لپاره يو لوی خنډ ګڼل کېږي او د هغوی پر وړاندې مبارزه کول د مسلمان لپاره ضروري دي.

که بيا هم داعش خپل افراطيت ته پرېښودل شي او په وړاندې يې جديت او قاطعيت ونه ښودل شي، نو د اسلامي امت لپاره به لاندې زيانونه رامنځته کړي:

**١ د اسلامي تعليماتو تحريف:**

که داعش خپل افراطيت ته پرېښودل شي، د خپلو اعمالو توجيه د اسلامي شريعت په نامه کوي، د اسلام اصل ښوونې تحريفوي؛ د دوی افراطي کړنې د اسلام سم او معتدل پيغام خرابوي او مسلمانان بدناموي.

**٢ د مسلمانانو ترمنځ اختلافات:**

که داعش خپل افراطيت ته پرېښودل شي، نو د مسلمانانو ترمنځ فرقوي او فرقه‌يي شخړې زياتوي، چې په اسلامي امت کې د يووالي او همغږۍ مخه نيسي، دا د مسلمانانو يووالي او قوت ته سخت زيان رسوي.

**٣ بې ثباتي او ناامني:**

که داعش خپل افراطيت ته پرېښودل شي، نو په اسلامي هيوادونو کې به د

جګړې، بې ثباتۍ او ناامنۍ کچه نوره هم لوړه شي، دا به د مسلمانانو ژوند، اقتصاد او ټولنیز پرمختګ اغېزمن کړي.

**۴ د اسلام نړیوال تصویر ته زیان:**

که داعش خپل افراطیت ته پرېښودل شي، نو د نړۍ په کچه اسلام بدناموي او غیر مسلمانان د اسلام په اړه ناوړه تصور ته اړ باسي، دا د اسلام پر سوله‌ییز پیغام سیوری غورځوي او د مسلمانانو او غیرمسلمانانو ترمنځ د بې‌باورۍ فضا رامنځته کوي.

**۵ د نوي نسل د ذهنیت خرابول:**

که داعش خپل افراطیت ته پرېښودل شي، ځوانان خپلو افراطي نظریاتو ته جلبوي؛ چې په نتیجه کې نوي نسل د سختدرېځۍ او تاوتریخوالي لار خپله کړي، دا د اسلامي امت راتلونکي لپاره لویه ننګونه ده.

**۶ کډوالۍ او مهاجرتونه:**

که داعش خپل افراطیت ته پرېښودل شي، نو د دوی فعالیتونه په سیمو کې ناامني او بې ثباتي رامنځته کوي، چې بیا خلک د مجبوریت له امله کډوالي او مهاجرتونو ته اړ باسي؛ دا کډوالۍ د سیمې اقتصادي او ټولنیز وضعیت نور هم خرابوي او د کورنیو بېلتونونه او بدبختیو لامل ګرځي.

**۷ د بشري سرچینو ضایعات:**

که داعش خپل افراطیت ته پرېښودل شي، نو د جګړو لپاره ځوانان جلبوي او هغوی د تاوتریخوالي او افراطیت قرباني کوي؛ دا په داسې حال کې، چې دغه ځوانان د امت لپاره د پرمختګ او مثبتو بدلونونو سرچینې جوړېدای شي، د داعش د افراطیت په وجه ضایع کېږي.

**۸ د پوهنې او پرمختګ مخنیوی:**

که داعش خپل افراطیت ته پرېښودل شي، نو د دوی تر کنټرول لاندې سیمو کې پوهنې ته درناوی نه کېږي او دوی زده‌کړې ته په افراطي بڼه سره ګوري؛ دوی مدارس، ښوونځي، پوهنتونونه او ټولنیز مرکزونه تخریبوي، چې د راتلونکي نسل تعلیمي وضعیت ته لوی زیان دی.

**۹ نفسیاتي اغېزې او رواني ناروغۍ:**

که داعش خپل افراطیت ته پرېښودل شي، د دوی په لاس را وتلي تاوتریخوالی او وحشت

خلکو ته ژورې رواني اغېزې رسوي، په ځانګړي ډول ماشومان او ښځې د سختو ذهني ستونزو سره مخامخ کېږي، چې په اوږد مهال کې د ټولنې لپاره جدي ننګونې رامنځته کوي.

**۱۰ اقتصادي زیانونه:**

داعش د جګړې او تخریب له لارې سیمې ته اقتصادي زیانونه رسوي، د تولید، تجارت، او زیربناوو سیستمونه خرابوي، چې په نتیجه کې د ټولې سیمې اقتصاد له پرمختګه پاتې کېږي.

**۱۱ بین المللي فشارونه او سیاسي انزوا:**

داعش د اسلامي هیوادونو پر وړاندې نړیوال حساسیت زیاتوي، چې د نړۍ نورو هیوادونو لخوا پر اسلامي هیوادونو فشارونه او بندیزونه زیاتوي؛ دا فشارونه د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو ستونزو لامل ګرځي، چې په نتیجه کې یې د اسلامي هیوادونو په پرمختګ کې خنډونه رامنځته کېږي.

په همدې اساس ویلی شو، چې داعش خپل افراطیت ته پرېښودل؛ د اسلامي امت ټولنیز، اقتصادي، تعلیمي او سیاسي جوړښتونو ته لوی زیانونه رسوي، چې د دې امت د راتلونکي لپاره لوی ګواښ دی.

**د داعش په وړاندې خاموشي، د امت په دردونو سترګې پټول دي!**

داعش د خوارجو یوه وحشي بڼه ده، چې د اسلام تر سپېڅلي نوم لاندې یې د امت وینه توی کړې، فتنې یې راپارولې، او د جهاد پاکه لار یې بدنامه کړې ده. د دوی په وړاندې چپ پاتې کېدل د باطل ملاتړ او د حق پټول دي! هر مؤمن مجاهد ځوان او قلموال باید د علم، دلیل، او جهاد په وسیله د دوی فساد بربنډ کړي، د امت یووالی وساتي او د خوارجو له فتنې امت ته نجات ورکړي.

## د داعش كاذب خلافت ته؛ د ځوانانو د جلب و جذب طريقې !

ليکنه :ابو حذيفه

داعش له بې فکره ځوانانو څخه په مؤثره توګه د خپلو هدفونو د پلي کولو لپاره استفاده کوي او په دې برخه کې مختلف تاکتيکونه کاروي، دلته ځينې مهمې لارې دي چې داعش يې د خلکو جذب او اداره کولو لپاره کاروي:

**۱ افراطي تبليغات:**

داعش د ټولنيزو رسنيو او انټرنيټ په مرسته افراطي تبليغات کوي، دوی د ويډيوګانو، غږيزو پيغامونو، او ليکنو له لارې د خپلو افراطي نظرياتو په مرسته خلك كاذب خلافت ته ور جلبوي؛ د ظلم، وحشت او جهاد په اړه بې اساسه خبرې ورته کوي، ترڅو يې په مرسته بې فكره خلك جذب كړي.

**۲ د اسلامي خلافت درواغجن انځور:**

داعش هڅه كړې او كوي يې؛ چې په خپلو تبليغاتو كې د خپلې واكمنۍ لاندې سيمې داسې ښكاره كړي، چې ګواكې دلته هر څه د اسلامي اصولو سره سم روان دي او خلك په سولييزه توګه او ارامۍ سره ژوند كوي.

دوی د ښوونځيو، روغتونونو او بازارونو ويډيوګانې خپروي، ترڅو وښيي؛ چې دوی يو بشپړ او عادلانه اسلامي خلافت جوړ كړی دی، د مثال په توګه؛ داعش د "خلافت ورځني ژوند" په نوم ويډيوګانې خپرولې؛ چې پكښې ښودل كېږي، خلك په سوله ييزه فضا كې ژوند كوي، كار كوي او عبادت كوي، دوی دا كار په دې موخه كوي، ترڅو بهرني مسلمانان د دوی كاذب خلافت ته د هجرت په موخه راشي.

حال دا چې په حقيقت كې به په دغو سيمو كې هرڅه برعكس او سرچپه روان وي، ظلم، بدامني او بې عدالتي به خپل اوج ته رسېدلې وي او په اكثريت ډول خو يې بيخي دا انځوريزې صحنې؛ جعلي او فوټوشاف ته ورته جوړې كړې وي.

**۳ فكري روزنه:**

د داعش ايډيالوژي يا فكري روزنه د ديني افراطيت په بنسټ ولاړه ده؛ دوی هڅه كوي چې ديني موضوعات تحريف كړي او خپل فكر په داسې ډول وړاندې كړي، چې د يو

حقيقـــي اسلامـــي خلافـــت د جوړولـــو هڅـــه ور څخـــه ښـــکاره شـــي، دوی د قـــرآن کـــريـــم او د احاديثـو غلـط تفسـيرونه او تأويلونـه کـوي، ترڅـو يـې پـه مرسـته خلـك پـه دې قانـع کـړي چې د دوی په کاذب خلافت کې ګډون وکړي.

## ۴ ټولنيز فشار او ګواښ:

پـه ځينـو سـيمو کـې داعـش خلـك د زور يـا د فشـار د لارې څخـه پـه اسـتفاده ځـان تـه رابلـي، همـدا ډول پـه مختلفـو لارو د هغـوی کورنـی ګواښـي، سـخته رويـه او چلنـد ورسـره کـوي، همـدا راز پـه ټولنـو کـې لـه ويـرې دهشـت او وحشـت څخـه کار اخلـي، ترڅـو خلـك دوی د ظلم او استبداد څخه د خلاصون په موخه د دوی په ليکو کې شامل شي.

## ۵ له احساساتو څخه ناوړه استفاده:

داعـش هڅـه کـوي، د ځوانانـو لـه ناهيلـی او احساسـاتي حالـت څخـه ګټـه پورتـه کـړي، د ظلـم او بـې انصافـی د ختمولـو پـه نامـه دوی تـه د جګـړې پـه برخـه کـې دروغجنـې وعـدې ورکـوي، همدارنګـه پـه خپلـو تبليغاتـو کـې ځوانانـو تـه د شـهادت پـه نـوم د جنتـي ژونـد وعده ورکوي.

دوی ځوانانـو تـه دا دروغجـن انځـور وړانـدې کـوي، چـې کـه لـه دوی سـره يوځـای شـي، پـه جګـړه کـې ګـډون ورسـره وکـړي او ځانمرګـي بريدونـه ترسـره کـړي؛ نـو د "شـهيد" پـه توګـه بـه مسـتقيم جنـت تـه ولاړ شـي او د دوی کورنـی بـه د الله جـل جلالـه لـه خـوا پـه بې حسابه انعامونو ونازول شي او ترلاسه به يې کړي.

## ۶ مالي انګېزې:

د داعـش مالـي مرسـتې او وعـدې هغـه کسـان هڅـوي، چـې اقتصـادي سـتونزې لـري يـا بـې روزګاره دي؛ دا ډلـه خلکـو تـه د ښـه معـاش، د هغـو د کورنيـو ملاتـړ، او پـه ظاهـره د ښـه ژوند کولو په موخه د فرصتونو برابرولو وعدې کوي.

## ۷ په تبليغاتو کې د ماشومانو کارول:

داعش پـه خپلـو تبليغاتو کې ماشومان هم کاروي، چې د "شـيران خلافت" په نوم ورته ځانګړي رول ورکوي، دوی کوچنيان په جګړه ييزو روزنو معسکراتو کې ښيي او هغوی ته د اسحلو او عقيدې روزنه ورکوي؛ ترڅو فکري (ايډيولوژيکي) جنګ د موجوده عصر ماشومانو ته او هم داسې راتلونکو نسلونو ته په دې توګه انتقال کړي.

کـه مونـږ پـه واقعـي توګـه داعـش او فکـر يـې سـم مطالعـه کـړو؛ پـه يقينـي توګـه دې پايلـې تـه رسـيږو، چـې د داعـش اسـاس او بنيـاد د اسلامـي احکاماتـو تطبيـق نـه؛ بلکـې

موخه او هـدف يـې اسلام بدنامـول او كفـري د سيسـې پلـې كـول دي، پـه همـدې وجـه دوی هميشـه، هـر ځـای د اسلامـي شـريعت ناسـم تفسـير وړانـدې كـړی، پـه ځانګـړې توګـه د جهاد، خلافت او شرعي حدودو په اړه.

دوی د جهـاد پـه نامـه بـې ګنـاه خلـك وژنـي او خپـل ظلمونـه پـه دينـي توګـه توجيـه كـوي، پداسې حال كې چې اسلام د سولې، زغم او عدالت دين دی.

همدارنګـه داعـش دا ادعـا كـوي، چـې پـه اوسـني عصـر كـې د دوی مسـير، تـګلاره او هـدف د يوازينـي مشـروع اسلامـي خلافـت قائمـول دي؛ نـو پـه همـدې اسـاس، هـر څـوك چـې د دوی سـره بيعـت ونـه كـړي او يـا د دوی مخالفـت وكـړي، كافـر يـې ګڼـي او د مـرګ سـزا ورتـه وركـوي، چـې پـه حقيقـت كـې داسـي د تكفيـر نظريـه پـه بشـپړه توګـه د اسلام مبارك دين له اساساتو سره په ټكر كې ده.

مسـلمانان بايـد پـه دې پـوه شـي، چـې داعـش او ورتـه ډلـې د اسلام حقيقـي اسـتازي نـه دي او نـه هـم د خلافـت قائمولـو پـه موخـه راوتلـي؛ خلـك بايـد لـه دې ډول تحريـف شـويو نظرياتـو څخـه ځـان وسـاتي او پـه علـم، پوهـه او دينـي لارښـوونو بانـدې ځانونـه سـمبال كـړي، ترڅـو د داعشي خوارجو له داسي بې ځايه تبليغاتو متأثره او د دروغو ښكار يې نه شي.

پوهـاوی او تعليـم د دې افراطـي نظرياتـو پـر وړانـدې تـر ټولـو ښـه وسـله ده، مسـلمانان بايـد د اسلامـي علمـاوو او معتبـرو سـرچينو او منابعـو څخـه خپلـه پوهـه ترلاسـه كـړي او دا ډول د هـر ډول افراطي فكر او حركت پر وړاندې ودرېږي.

# داعش د اسلامي شعایرو ختمونکي

**لیکنه: یحیی عرفان**

د اسلام په تاریخ کې، چې هر وخت په لومړنی او وروستنی زمانه کې خوارج رامنځته شوي دي، تګلاره او عمل یې د نړۍ له ټولو مسلمانانو څخه خلاف وي.

اوسني خوارج (داعش) چې له کومې ورځې را پیدا شوي دي، له هغې ورځې یې، د اسلام د مبارك دین له دېرو اصولو او فروعو څخه سرغړونه یوازینی تګلاره ده؛ دوی تل کوښښ کوي، چې د اسلام د مبارك دین ټولمنلي اصول ناسم وګڼي، مسلمه امت ته یې د اندیښنې وړ وبریښوي او د نړۍ مسلمانانو ته شکوك او شبهات پیدا کړي.

د همدې پروژې د مختـه وړلو په نیت یې ډېر ناوړه کارونه کړي دي، چې له جملې یې یو کار هم مقدس اماکن، د کفر او شرك علامې ګڼل دي؛ چې په عراق کې یې د ځینو پیغمبرانو (علیهم السلام) د قبرونو ترڅنګ، د صحابه کرامو (رضی الله عنهم) ډېر قبرونه نړولي دي او د نړۍ په سطحه یې په ډېرو سیمو کې د نیکو او مسلمانو افرادو قبرونه له منځه وړي دي.

د خیبر پښتونخوا په سیمه کې چې کله داعش را ښکاره شول؛ تر ټولو لومړی یې د پښتو ژبې د مخکښ صوفي شاعر عبدالرحمن بابا او ځینو نورو نیکانو او صالحانو قبرونه والوزول، چې له امله یې په اسلامي امت کې خورا ډېرې بې باورۍ رامنځته شوې او د ډېرو اسلامي تنظمونو رنګ پکې بد شو.

خو په حقیقت کې دا کار داعش کړی و، دا چې داعشیان د مسلمانانو په نامه ځان معرفي کوي؛ څکه خو یې نور مسلمانان هم ورسره رنګ بدي شول او داعش تل کوښښ کوي چې داسي کارونه وکړي، ترڅو د اسلام مبارك دین خلکو ته شبه ناك او مشتبه دین ښکاره کړي.

داعشیانو په ډېرو سیمو کې پخواني او لرغوني مساجد نړولي دي او هغوی ته یې (العیاذبالله) د شرك ځالي ویلې او خورا ډېر مساجد یې نړولي دي.

د «داعش» نومي کتاب وایي: (داعش له زیارتونو او قبرونو څخه کرانبیه څېزونه اخلي او بیا یې ویجاړوي/ جنګیالي یې ورته د جګړې د غنیمت په سترګه ګوري (مخ:٤٢).

د داعشـیانو د ځینـو افـرادو لـه خولـو اورېـدل شـوي دي، چـې کـه دوی پـر سـعودي برلاسـي شي، دوی به د مکې او مدینې مقدس اماکن هم ونړوي.
د داعشـیانو لـه دې وړاندوینـې داسـي برېښـي، چـې کعبـه شـریفه هـم دوی تـه د نړولـو وړ برېښـي او دوی بـه یـوه ورځ اراده ولـري چـې کعبـة اللّه؛ چـې د مسـلمانانو قبلـه ده، دوی بـه ورته د شرك او کفر نښه ووایي او له منځه به یې یوسي.
دا ځکـه چـې دوی د مسـلمانانو د اتحـاد او را یوځـای والـي ټـول منابـع او سـرچینې لـه منځـه وړل غـواړي، پـر اسـلامي شـعایرو د نړۍ‌ټـول مسـلمانان سـره را یـو ځـای کېږي او د دوی ترمنـځ د اسلام پـه اړه پـه بیـن المللـي بنـه د مسـلمانانو پـر اساسـي مسـایلو بحثونـه ممکـن دي او د اسلام او مسلمان په دفاع کې مقدس اماکن مهم رول لري.
خـو داعشـیان چـې اصلاً د مسـلمانانو ترمنـځ د عمومـي بـې اتفاقـۍ پـه موخـه را منځتـه شـوې پـروژه ده؛ د مقدسـو اماکنـو د نړولـو کار ځکـه مختـه وړي، د دوی همـدا مکلفیـت دی چې د اسلام په نامه د مسلمانانو ترمنځ درز او جلا والی راولي.

داعـش یـوه داسـې منحرفـه ډلـه ده چـې د اسلام حقیقـي روح او شعایر یې په ظالمانه توګه تحریف کړي.

دې ډلـې د اسلام د سـپېڅلي پیغـام سـره خیانـت کـړی او پـه نـړۍ کـې یـې د مسـلمانانو ترمنـځ فتنـه راپارولـې ده. داعـش د هغـو اصولـو خلاف عمـل کـوي چـې پـه قرآن او سـنتو کـې یـې روښـانه لارښـوونې شـوې دي، او د خپلـو کړنـو لـه لارې یـې د اسلام او مسـلمانو خلکـو عـزت تـه زیـان رسـولی دی. دوی نـه یـوازې د مسـلمانانو پـه منـځ کـې، بلکـې پـه نړیوالـه کچـه د اسلامـي شـعایرو د تحریـف او نابـودۍ لپـاره هـر ډول هڅې کوي.

## په بېلا بېلو موضوعاتو کې د داعش خپلمنځي اختلافات

**لیکنه: اسد غورځنګ**

د داعش داخلي اختلافات یوازې په تاکتیکونو او ستراتیژیو پورې محدود نه دي؛ بلکې د مشرتابه، مالي سرچینو، شایسته ښځو، ایډیالوژۍ او سیمه ییزو موضوعاتو پر سر هم اختلافات لري، چې د داعشیانو تر منځ په لوړه کچه د کمزورۍ او بې باورۍ سبب ګرځېدلي دي.

دلته د داعش داخلي اختلافاتو څو اړخونه بیان شوي دي، هیله ده لوستونکي یې په دقت سره ولولي.

**۱ د مشرۍ یا رهبرۍ پر سر اختلافات:**

د داعش په تنظیم کې د مشرۍ پر سر وخت په وخت اختلافات راپورته شوي دي، کله چې د داعش بنسټ ایښودونکی ابوبکر البغدادي په ۲۰۱۹ میلادي کال کې ووژل شو، د هغه پر ځای د نوي مشر له ټاکلو وروسته د داعش تر منځ په لوړه کچه اختلافات رامنځ ته شول.

د دوی ځینې ډلې یې د نوي مشر د ټاکلو په تړاو نیوکه لري او فکر کوي چې نوي مشران یې په پوره ډول د داعش اصل ایډیالوژۍ سره سمون نه لري.

**۲ پر تکتیکونو او جنګي ستراتیژیو اختلافات:**

د داعش ځینې غړي له خپلو مشرانو سره د جګړې پر ستراتیژیو باندې مخالف دي، ځینې یې پر دې باور دي چې د بې ګناه خلکو وژل د دوی د ایډیالوژۍ خلاف دي او له دې کبله باید له نورو خلکو سره نرم چلند وشي، په داسې حال کې چې د داعش تندلاري او له دین نه ناخبره مشران د سختو تاکتیکونو پلوي کوي.

دا اختلاف د دې له امله دی چې ځینې یې غواړي د خلکو ملاتړ تر لاسه کړي او ځینې یې په شدت او سختوالي باور لري.

**۳ د مالي سرچینو پر سر اختلافات:**

داعش له بېلابېلو سرچینو څخه پیسې ترلاسه کوي او د دې پیسو وېش ددې ډلې د مهمو اختلافاتو سرچینه ده، ځینې ډلې په دې باور دي چې د دوی حقونه د پیسو په وېش کې نه مراعات کېږي او دې مسئلې د داعش په داخلي کړیو کې نور هم اختلافات

زيات كړي دي.

**۴ پر ځواك او صلاحيتونو د كنټرول اختلافات:**

مركزي مشري هڅه كوي، چې په هره سيمه كې د خپل ځواك او صلاحيتونو كنټرول وساتي او د خپلو مقرراتو او فرمانونو د پلي كولو په موخه سيمه‌ييز مشران محدود كړي.

خو ځينې سيمه‌ييز مشران دا د خپلو واكونو پر وړاندې خنډ ګڼي او له همدې امله د مركزي مشرۍ پر وړاندې بې پروايي يا مخالفت ښكاره كوي.

**۵ د ښځو وېش پر سر د واك او نفوذ اختلافات:**

ځينې سيمه‌ييز قوماندانان غواړي، چې د جګړې او عملياتو په ساحو كې د نيول شويو ښځو وېش له مركزي رهبرۍ پرته په خپله ترسره كړي؛ په داسې حال كې چې د دې ډلې مركزي مشرتابه هڅه كوي، چې د نيول شويو ښځو او نجونو په وېش كې بشپړ كنټرول ولري.

د دې عمل په ترڅ كې ځيني قوماندانان د ښځو وېش د خپلو شخصي ګټو لپاره هم كاروي.

**۶ د ښځو د ملكيت او د كورني ژوند لپاره وېش:**

د داعش په تنظيم كې ښځې د جګړې د غنيمت يوه برخه ګڼل كېږي او د جګړه ييزو خدمتونو او قربانۍ لپاره ځينو قوماندانانو ته وركول كېږي.

په دې برخه كې اختلافات راځي؛ كله چې ځينې قوماندانان ښځې يوازې د خپلو نږدې افرادو يا خپلو اړوند كسانو ته وركول غواړي، په داسې حال كې چې نور قوماندانان غواړي چې دوی ته هم په دې برخه كې برابره ونډه ور كړل شي.

**۷ د ښايسته هلكانو پر استعمال د ايډيالوژيكو مخالفينو عكس‌العمل:**

ځينې سخت دريځي داعشيان د ښايسته هلكانو استعمال "غير اسلامي" ګڼي او له دې امله يې د ډلې پر ايډيالوژي نيوكې كوي.

دوی باور لري چې د ښايسته هلكانو راجلبول بايد يوازې د كورني رول لپاره وي، نه د جګړې يا تبليغاتي موخو لپاره؛ خو اكثريت شمېر داعشيان ښايسته هلكان له ځانونو سره ساتلو او پر بېلابېلو ځايونو كې استعمالولو ته جواز وركوي.

دا هغه اختلافات دي چې د داعش په دننه كې يو له سترو ستونزو څخه ګڼل كېږي او د دوی پر عمومي ځواكمنۍ او د سيميزو ځانګو تر منځ په اړيكو ژور اغېز لري.

# دریيم فصل
# ديني او جهادي

# د اسلامي امارت د محاکمو د پرېکړو معيار

ليکنه: ابو عمر حقاني

د افغانستان اسلامي امارت له نوم سره ټول اشنا يو چې دا يو بشپړ اسلامي نظام دی او هڅه کوي، چې په خپل قلمرو کې د قرآني او نبوي ارشاداتو او حنفي فقهې د اصولو په رڼا کې داسې اسلامي نظام تطبيق کړي، چې ټول ژوندي موجودات په ځانګړې توګه انسانان په کې خپل شرعي حقونه خوندي او مصؤن وګڼي.
الحمدلله تر ډېره حده په دې کار توانېدلی او دا دويم ځل دی چې افغانستان کې داسې عدالت تأمينوي چې افغانان دغه دورې له عمري عدالت سره تشبيه کوي.
دا هم ټولو ته واضح او روښانه ده چې د عدالت تأمينول او حق، حقدار ته سپارل د اسلامي نظام د قضاء برخې يا ارکان وجيبه ده، چې اسلامي امارت کې قضاء د هغه حيثيت ته په کتو بشپړه خپلواکه او هر قاضي او د محکمې غړی د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی لخوا مکلف شوی چې هېڅ مستقيم يا غير مستقيم فشار ته به غاړه نه ږدي؛ بلکې په پوره جرئت به د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې پرېکړې کوي.
پوښتنه دا ده چې د اسلامي امارت د محاکمو د پرېکړو معيار څه شي دی؟
دا يم چې د پورته څو کرښو تر لوستلو وروسته به ته (د دې ليکنې لوستونکی) دغه سوال سم ځواب کړې، ځکه پوهېږې چې د عمري عدالت تأمين يوازې او يوازې هغه مهال شونی او ممکن دی، چې قضائيه قوه يا محاکم د خپلو پرېکړو معيار اسلامي شريعت وګرځوي، خو د دې خبرې د لا ښه وضاحت لپاره زه غواړم د اسلامي امارت د محاکمو د پرېکړو معيارونه هغه دي، کوم چې د اهل السنت والجماعت علماوو پرې اتفاق کړی دی، په شماره وار ډول ياد کړم:

## ① قرآنکريم:

د اسلامي امارت د محاکمو اصول قاضي، مفتي او د محاکمو نور قضائي غړي په دې مجبوروي چې محاکمو ته راجع شوي موضوعات وګوري چې آيا د حل او فصل په برخه کې يې د قرآنکريم څرګند حکم موجود دی او کنه؟ که د موضوع اړوند قرآنکريم کې حکم راغلی وي، نو قضائي غړي به ياده موضوع د قرآنکريم د

همغه حکم په اساس فيصله کوي.
د بېلګې په ډول: قرآنکريم کې د ډېرى لويو جرايمو (قتل، زنا، غلا، قذف او ...) په اړه صريح او روښانه احکام شته، دغه موضوعات د اسلامي امارت محاکمو ته تر راجع کېدو وروسته د قرآنکريم د حکم مطابق فيصله کېږي.
څرنګه چې الله تعالى قرآنکريم وضع کوونکى، حاکم او د ټولو مخلوقاتو پالونکى دى، نو ځکه د پرېکړې ټول واک ورسره دى، الله تعالى فرمايي:
« ألا له الخلق والأمر» [سورت الأعراف :۵۴]
ژباړه: خبردار اوسئ، د هماغه ذات هستونه ده او د هماغه حکومت دى.
همدارنګه بې له الله عزوجل څخه پرته بل چاته پرېکړې کول نه ښايي، الله جل جلاله فرمايي: «إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ» [سورت الانعام:۵۷]
ژباړه: د حکم او پرېکړې اختيار يوازې الله تعالى لره دى.
پر ټولو خلکو لازمه ده، چې د الله تعالى د حکمونو پيروي به کوي او امرونه به يې مني، ځکه الله تعالى د خپلو بندګانو په مصلحتونو، د هغوى د کمزوريو په ځايونو خبر دى او دوى به هېڅکله بې لاسنيوي پرېنښودل شي.
نو د قانون او قضاء لپاره اصلي مأخذ او سرچينه هغه د الله تعالى احکامات دي او څرنګه چې پيغمبران د حکمونو د رسونې په خاطر د څښتن او بندګانو ترمنځ واسطه دي، نو د دوى خبره هم دين کې حجت هم دليل دى.
۲ نبوي احاديث:
که چيرې د اسلامي امارت د محاکمو قضائي غړي محاکمو ته د راجع شوو دوسيو حکم په قرآنکريم کې پيدا نه کړي، نو دغه موضوعات بيا د نبوي ارشاداتو (احاديثو) په رڼا کې څېړي او د صحيح (قوي) احاديثو له مخې يې په اړه پرېکړې صادروي.
د بېلګې په توګه: د حد سرقې بيان شته، چې د غله او غلې لاس دې پرې کړل شي، خو تفصيل يې نشته، چې په څومره مال به د غل/غلې لاس پرې کېږي، چې ياد تفصيل په حديث شريف کې ذکر شوى دى.
د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث خپله شرعي حجت دى، ځکه هر لفظ چې د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم له خولې راوتلى، هغه په الهي وحيې ولاړ دى

اوالله تعالى يې په اړه وائي:

«وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ(٥) إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ »[سورت النجم :۴]

ژباړه: دغه (محمد صلى الله عليه وسلم) له خپل نفسي خواهش څخه خبرې نه کوي او دا (قرآن) خو يوه وحيې ده، چې پر هغه نازلېږي.

همدارنګه د ام سلمې رضي الله عنها په يو روايت کې راځي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه دوو تنو ته چې د خپل هغه ميراث په دعوه کې راغلي وه، کوم چې د ځينې څېزونو نښې يې ختمې شوي وې، وويل: دا ښکاره خبره ده، د کوم څه په اړه چې په ما څه نه وي نازل شوي، په هغه مورد کې زه په خپله رأيه پرېکړه کوم.

[رواه ابو داؤد]

۳ اجماع:

اجماع هم د اسلامي امارت د محاکمو د پرېکړو اصل دى، کله چې يوه موضوع د محاکمو لخوا دقيقه وڅېړل شي او د هغه په اړه قرآنکريم يا نبوي احاديثو کې حکم پيدا نه کړل شي، نو د محاکمو مسؤولين دغه مسايل د اجماع په توسط حلوي، اجماع عبارت دی: د اسلامي د امت د علماوو په يوه مسئله باندې اتفاق او راټوليدل. که څه هم دا پخپل ذات کې پراخ او اوږد بحث دی چې دا ځای يې نه دی.

له دې جملې څخه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حديث دی، فرمايي:

چاته چې کومه پرېکړه راشي، نو هغه دې د قرآنکريم په رڼا کې پرېکړه ورته وکړي، که چېرې داسې پرېکړه وه چې په قرآنکريم کې موجوده نه وه، نو په هغه څه دې پرېکړه وکړي کوم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په کړې ده، که بيا هم چېرې داسې پرېکړه راشي، چې نه په قرآنکريم کې موجوده وه او نه رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په اړه کومه پرېکړه کړې وه، نو په هغه څه دې پرېکړه وکړي، کوم چې اسلافو ويلي وي.

که چېرې داسې پرېکړه راشي، چې نه په قرآنکريم کې موجوده وي، نه رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه اړه پرېکړه کړې وي او نه هم د اسلافو پرېکړه شتون ولري، نو خپل په اجتهاد دې پرېکړه وکړي او که چيرې يې کومه نېکه رأيه ورسره نه وه، نو بيا دې وضاحت ورکړي او دې کې دې شرم نه کوي.

[رواه الحاكم في المستدرك]

(۴) قياس:

د اسلامـي امـارت پـه قضائيـه قـوه كـې د پرېكـړو څلـورم اصـل او معيـار هغـه قيـاس دى، چې د اسلامـي شـريعت كـې د احكامـو د حجت لپـاره د قـرآن، حديـث او اجمـاع وروسـته بـل اصل چې احكام پرې بناء كېږي، هغه قياس كڼل كېږي.

قيـاس پـه لغـت كـې انـدازه كولـو تـه وائـي او پـه اصـطلاح كـې د حكـم لپـاره فـرع د علـت په لړلو سره پر اصل قياسولو ته قياس ويل كېږي.

د قيـاس د حجيـت د اثبـات لپـاره پـه قـرآن كـريـم او نبـوي احاديثـو كـې بېلكـې شـته دي، چې د دغه دوه آيتونو واضح د قياس په حجيت باندي دلالت كوونكي دي:

**إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِنْدَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ. (الاية)**

**ولو ردوه إلى الرسول وإلى أولي الأمر منهم لعلمه الذين يستنبطونه منهم. (الاية)**

د معـاذ بـن جبـل رضـي الله عنـه حديـث دى، كلـه چـې رسـول الله صلـى الله عليـه وسـلم يمـن تـه د ده د لېږلـو هـوډ وكـړ، نـو ورتـه ويـې ويـل: كلـه چـې څـه پرېكـړه درتـه راشـي څنګه پرېكړه به كوې؟ هغه وويل: د الله په كتاب به پرېكړه كوم.

كـه د الله تعالـى پـه كتـاب كـې پيـدا نـه شـي؟ هغـه وويـل: د رسـول الله پـه سـنتو پرېكړه كوم.

بيـا يـې ورتـه وويل: كـه دواړو كـې يـې پيدا نـه كـړې؟ هغـه وويـل: پـه خپلـه رايـه اجتهـاد كـوم. بيـا رسـول الله صلـى الله عليـه وسـلم هغـه پـه سينـه وواهـه او ويـې ويـل: ثنـاء هغـه ذات لـره ده چـې د خپـل رسـول اسـتازي تـه يـې د هغـه څـه توفيـق وركـړ پـه څـه چـې د الله رسـول راضي دى. [سنن ابو داؤد]

نـو پـه لنـډه توګـه ويلـى شـو، چـې د اسلامـي امـارت د محاكمـو د پرېكـړو معيـار هغـه څـه دي، كـوم چـې د شـرعي احكامـو د اثبـات لپـاره ټـاكل شـوي دي او د حنفـي فقهـې پـه معتبرو كتابونو كې متفق عليها كڼل شوي وي.

# اسلامي امارت يو بېلګه ييز نظام !

**ليکنه: عزيز عازم**

پـه سياسـي خپرونـو، بحثونـو او خوالـه شـبکو کـې پـر اسلامـي امـارت يـوه خندونکـې نيوکـه دا وي چـې د افغانسـتان اسلامـي امـارت اخـر د کـوم اسلامـي هېـواد پـه څېـر نظـام غـواړي، هغـه سيسـتم چـې پـه افغانسـتان کـې روان دی، دوی دې ووايـي چـې د سـعودي، ايـران، ترکيـې او يـا بـل کـوم اسلامـي هېـواد تـه ورتـه دی، کـه يـوه کـې هـم نـه وي، نـو بيا څنګه متفاوت اسلام او نظام غواړي؟

په دې کې شك نشته چې دا ډول نيوکې د غرب ځيلو افکارو او اذهانو محصول دی، هغوی چې د اسلام مبارك دين په تړاو هېڅ مطالعه نه لري او ميراثي مسلمانان پاتې وي، بيا نـو طبيعـي ده چـې پـه خپل ذات او اصولو کې به د اسلام د څېړنې او سـپړنې پر ځای اسلام په اشـخاصو، هېوادونو او د اوسـنيو اسلامي هېوادونو په سيکولر او غرب پالو نظامونو پېژني. لومړی خـو خپلـه د اسلامـي هېوادونـو اوسـنۍ حالـت او سيسـتم پـه هـر حالـت کـې د پوښـتنې وړ دی، هغـه څـه چـې نـن پـه سـعودي عربسـتان، ترکيـه، تاجکسـتان، ازبکسـتان، مصر او نورو هېوادونو کې تېرېږي، ايا د اسلامي نظام او هېواد نوم ورکولی شو؟

هغه جمهوري اسلامي نظامونه چې د ټاکنو پيسو او کانديدان يې د امريکا د پراختيايي ادارې او نورو غربي هېوادونو له بوديجې نه تمويل شوي وي، د اسلام استازولي کولی شي؟

حقيقـت دا دی چـې افغانسـتان اوس پـه اسلامـي نـړۍ کـې يوازينـی هېـواد دی چـې جلا او بېلګـه ييـز نظـام لـري، يـو داسـې نظـام چـې د بهرنيـو فشـارونو، ملاتـړ، اسـتعماري موخـونـه پـه خپلواکـۍ سـره د اسلام مبـارك ديـن د ارزښـتونو او د افغانانـو د غوښـتنې پـه رڼـا کـې رامنځتـه شـوی دی، داسـې نظـام چـې هـم پوځـي ځـواك لـري او هـم د هېـواد د ادارې لپاره اداري صلاحيت او مالي خپلواکي تر څنګ د نړيوال سياست او اړيکو تجربه ور په برخه ده.

دا چـې د يـوه نظـام د پايښـت لپاره اساسـي او فکـري تـګلاره تـر ټولـو مهمـه تکيـه ګـڼل کېږي، يـا ورتـه د پايښـت محـور ويلـی شـو؛ نـو اسلامـي امـارت ددې ځانګړنـې څخـه برخمـن دی، ځکـه چـې اصلـي محـور اسلامـي شـريعت دی چـې پـه شـعار او عمـل دواړو کـې پلی شوی او دا په حقيقت کې د افغان مسلمان ولس غوښتنه ده.

پـه تېـره څـه بانـدې يـوه پېـړۍ کـې د درېيـو امپراتوريـو پـر وړانـدې د افغـان ولـس درېـدل يـوازې

او يـوازې د خپـل ديـن او ارزښـتونو د سـاتنې لپـاره وو او اوس چـې د اسـلامـي امـارت پـه راتـګ سـره دغـه ارمـان پـوره شـوى دى، بيـا طبيعـي ده چـې د ولـس د غوښـتنې پـه پـوره کېـدو سـره د ملي مشروعيت موضوع هم حل ده.

د اسلامـي نـړۍ پـه نـږدې ټولـو هېوادونـو کـې هـم څـوك د داسـې هېـواد نـوم نـه شـي اخيسـتلى چـې مطلـق دې پـر شـريعت بنـاء وي، ټـول اصـول او کـړنلارې دې د يـوه داسـې اميـر لـه لـوري تائيـد شـي چـې د قـران او احاديثـو متخصـص او مـدرس پاتـې شـوى وي، ځکـه چـې د اسلامـي امـارت زعيـم خپلـه پـه بيـا بيـا ويلـي چـې کـه هـر حکـم او فرمـان د قـران او حديثـو سـره پـه ټکـر کـې وي؛ نـو يـو عـادي افغـان يـې هـم د رد او وربانـدې د نيوکـې صلاحيت لري.

ددې تـر څنـګ بلـه مهمـه موضـوع چـې مهمـه کـڼـل کېـږي، د وزيرانـو، شـوراکانو او مسـوولينو ده؛ دوى بـه ښـايي د تخصـص لـوړه کچـه ونـه لـري، خـو ديـن، هېـواد او ولـس تـه د تعهـد لـه لـوړې درجـې څخـه برخمـن دي او تېـرو تجربـو ثابتـه کـړې ده چـې پـه افغانسـتان کـې لـه ژمنتيـا يـا تعهـد پرتـه تخصـص پـه هـر صـورت کـې نـاکام دى، دوه تابيعتـه او درې تابيعته مشران هېڅکله هم د هېواد په خير نه دي.

پـه افغانسـتان کـې اوسـنى سـترې او ورې پـروژې د مسـلکي کسـانو لـه لـوري پلـي کېـږي، خـو تـر شـا يـې يـو متعهـد او مسـلکي ارزښـتونو يـا اصولـو تـه پـه درنـاوي قايـل مشـر (وزير، رئيس) ولاړ دى.

پـه همـدې اسـاس ويلـى شـو چـې اسلامي امـارت نـه يـوازې د اوسـنيو اسلامـي هېوادونـو د حاکمـو نظامونـو لپـاره، چـې اکثـره يـې جمهـوري او شـاهي دي، يـو بېلګـه ييـز او پـه رښـتيني اسلام ولاړ نظـام دى، بلکـې د غربـي يـا کفـري هېوادونـو لپـاره هـم د ولـس ارادې تـه درنـاوي، خدمـت او دوه اړخيـز ملاتـړ لـه مخـې بېلګـه ييـز کـڼـل کېدلـى شـي، ځکـه چـې پـه پايلـه کـې يـې ولـس تـه امنيـت، سـوکالي او د ملـي پخلاينـې پـه فضـا کـې د ژوند کولو زمينه مساعده شوې ده.

د بهرنيـو مغرضـو کـړيـو، اسـتخباراتي ډلـو او نـورو نيابتـي ګروپونـو لپـاره د پـل ايښـودلو ځـاى ځايکـى نشـته، ښـايي پـه همـدې سـبب بـه نـړۍ لـه بـل هـر وخـت څخـه اوسـمهال لـه افغانسـتان څخـه ډاډمنـه وي، د ګاونديانـو تـر منـځ د اړيکـو تـوازن هـم د ډاډ دغـه فضـا پراخه کړې ده او ټول د ښه نيت او امنيت په فضا کې ژوند کوي.

# په اوسني دور کې د اسلام د بقاء حالت !

**لیکنه: خالد حمزه**

اسلام هغـه مبـارك ديـن دی، چـې د ژونـد ټـول اړخونـه لكـه؛ سیاسـت، اقتصـاد، تجـارت، اخلاق، عبـادت او كلتـور پـه بـر كـې نيسـي، يعنـې اسلام د ژونـد هغـه تـكلاره ده؛ چـې د توحيـد لـه سـپیځلې عقيـدې منشـاء اخلـي، هغـه الهـي قانـون دی، چـې د بشـريت د مشكلاتو بشپړ حل پكښې موندل كېږي او د هدايت او كاميابی پوازينی مرجع ده.

واحد امت كـه د نـورو پـه دورو پـورې هـم وتـړل شـي؛ نـه ورك كيـږي، هغـه اسلام دی، اسلام دی چې په هر عصر كې د ټولنې او وګړو ټولو مشكلاتو ته ځواب ويونكی دی !

د تاريـخ پـه اوږدو كـې؛ چـې هـر كلـه مونـږ را لوېدلـي يـو او ماتـې مـو خوړلـې؛ بيـا تـر هغـه پـه ښـه ډول را پاڅيدلـي يـو، د زوال ترخـه او عـروج خـوږه مـو تجربـه كـړي، چـې دا لـړۍ همداسې روانه ده او تر قيامته به دوام مومي.

رسـول الله صلـی الله عليـه وسـلم د اسلام د مبـارك ديـن د خپرولـو پـه تـكل؛ پـه يـوازې ځان او د الله پـه نصـرت مباركـې متـې راونغاړلـې، د دعـوت پـه لاره كـې يـې هـر ډول سختـی پـه ځـان ومنلـې، مګـر پـه هـوډ او عـزم كـې يـې هيـڅ تزلـزل رانغـی، چې په پايلـه كـې يـې د يوه داسې اسلامي نظام د بنسټ ډبره كښېښوده؛ چې هيڅ مثل يې نشته.

پيغمبـر صلـی الله عليـه وسـلم د مسـجد امـام، د مجاهدينـو سـر لښـكر، د صحابـه كرامـو اسـتاد او د الله تعالـی رسـول و، يـو داسـې قرآنـي نسـل يـې تربيـه كـړ؛ چـې د تاريـخ نقشـه يې له سره جوړه كړه، ټوله نړۍ يې د جهالت له تيارو؛ د اسلام پر رڼا منوره كړه !

د رسـول الله "صلـی الله عليـه و سـلم" لـه رحلـت وروسـته عربـي جزيـره مرتـده شـوه، يـوازې څـو ښـارونه لكـه؛ مدينـه منـوره، مكـه مكرمـه، طايـف او بحريـن پـه امـن پاتـې شـول، چـې د زكاة له وركړې منكر نه شول.

خلك په ډلييزه توګه له اسلامه واوښتل، پاتې مسلمانان په دين ځورول كېدل، قتلېدل، ځينو د پيغمبری دعوې وكړې، كفر او طاغوت د عربي جزيرې ټولې برخې ونيولې، تر دې چې ځينې صحابه كرام هم ناهيلي شول، د امت حالت د نن پر تله څو چنده بدتر و.

حتـی چـې ځينـو ابوبكـر رضـی الله عنـه تـه وويـل: اې ! د رسـول الله صلـی الله عليـه وسـلم ځای ناستيه:

مورنه شو کولای چې له ټولو عربو سره وجنګيږو، پر خپل کور کښېنه، دروازې وتړه او تر مرګه ځان د الله جل جلاله په عبادت مصروف کړه.
داسې فکر کېده؛ چې د مقاومت وس او توان نشته، ناهيلی هرې خوا ته خپلې وزرې غوړولې وې، داسې حالت و؛ چې تحمل يې د ټولو له توان وتلی و.
خو ستر ابوبکر صديق رضی الله عنه يوه داسې پريکړه وکړل؛ چې تاريخ يې په لرزه راوست، داسې غرېږې وکړ؛ که نن يې هم څوك بدرګه کړي؛ پر ټوله نړۍ به حاکم شي.

ستر صديق وويل:

ايا دين دې ناقص شي؛ په داسې حال کې چې ابوبکر ژوندی وي؟! په يوازې ځان ور سره جنګيږم، تر هغو چې سر مې غوڅ او روح مې لاړ شي.
ستر ابوبکر رضی الله عنه راپاڅېد، مسلمانان هم ورسره راپاڅېدل، د مرتدينو ريښې يې له بيخه وويستې، د پيغمبرۍ د دعوه کوونکو سرونه يې له تنو جدا کړل، يو ځلې بيا يې نړۍ د الله تعالی په نور روښانه او عربي جزيرة يې مسلمانه کړه.
په همدې وخت کې ابوبکر رضی الله عنه له مدينې څخه د فارس او روم د فتحې په تکل؛ اسلامي لښکرې وليږلې، چې دا د تاريخ تر ټولو حيرانونکې هوډ ګڼل کيږي، د ستر ايمان حيرانوونکې انګېزه، داسې پوځ چې له کورنۍ جګړې تازه راستون شوی و؛ د فارس او روم د امپراطوريو د نړولو هوډ وکړ او وه يې نړولې، زموږ د بريا راز؛ هغه ايمان او عقيده وه، چې غرونه يې ويلې کول او بحرونه يې څېرل.
اموي او عباسي خلافت د نړۍ 3/2 برخه د اسلام په قلمرو کې شامله کړه، په علمي، اقتصادي او صنعتي ميدانونو کې د نړۍ سرلاري وه، په اته سوه کلن اسلامي اندلس کې يې يو داسې تمدن تر شا پرېښود؛ چې تر ننه فکرونه ورته ګوته په غاښ دي.
هغه وخت چې په ټوله اروپا کې پر علم او صنعت بنديز و؛ زموږ په اسلامي اندلس کې ستر – ستر جراحي عمليات اجراء کيدل، په ټوله اروپا کې تر زرو زياتو کتابونو شتون نه درلود؛ مګر يوازې زموږ د قرطبې په يوه کتابتون کې، په لسګونو زره کتابونو شتون درلود، په رغنيزه برخه کې د اشبيلې، طليطلې او بغداد ښارونه اوس هم د حال په ژبه د خپل ميراث کيسې کوي.
مګر حکامو او رعيت يې چې څه وخت د اسلام مبارك دين د ژوند له چارو وويست؛ د

دنيـا پـه عيـش او عشـرت مبـتلا شـول، هـم هغـه و چې لـه شـرق څخـه مغلـو او لـه غـرب څخـه صليبـي نـړۍ پـرې هجـوم راوړ او سـتر عباسـي خلافـت يـې ونـړاوه، دې لـړۍ پيـړۍ پـه بـر كـې ونيولـې، تـر څـو چـې مؤمنانـو بيرتـه خپـل ديـن تـه مخـه كـړه او ناصـر رب هـم يـو ځلـې بيـا پـه يو سـتر نعمت؛ عثماني خلافت ونازول.

د اروپـا دريمـه برخـه يـې فتحـه كـړه، تـر شـلمې مـيلادي پېـړۍ پـر نـړۍ د اسلام راج چليـده، هـره برخـه كـې سـرلاري و، مګـر كلـه چـې بيـا را څخـه خپـل مسـير خطـا شـو؛ بيـا مـو د زوال بدبختـي پـه نصيـب شـوه، هغـه خلافـت چـې تـر 1924 مېلادي كال پـورې د اسـلامـي امـت پـر سـر سـايه غوړولـې وه او د يووالـي سـمبول و؛ ونړېـد، متحـده اسـلامـي نـړۍ پـه ٥٧ ټوټـو وويشل شوه.

اسلام د حق، عدل، او پاكيزه ژوند پيغام دی.

پـه دې دور كـې چـې د ماديـت او فاسـد افـكارو غلبـه ده، د اسلام بقـا يـوازې پـه عمـل، اخلاقـي اصولو او جهادي روحيه كې ده.

د اسلام بقـا پـه دې كـې ده چـې د الله پـه لاره كـې قربانـۍ وكـړو، د جهـاد روحيـه خپـل كـړو، او د اخلاقـي اصولـو پابنـد پاتـې شـو. د ديـن دفـاع، يووالـي، او پـه حـق بانـدې ټينـګار د اسلام د بقـا لپـاره اساسـي ارخونه دي.

اسلام يـوازې د فـرد نـه، بلكـې د ټولنـې او امـت ديـن دی، او د هغه بقا به په جهادي مبارزه، ايماني ثبات، او اتحاد كې وي.

# شهادت د حريت، او ازاد ټولنيز ژوندانه يوازينى راز

ليکنه :ابو جاويد

د امت د تاريخ په کتاب کې قربانۍ او شهادت هغه توري دي، چې د تاريخ ځلا او ښکلا يې زياته کړې ده، د محکوم او مظلوم امت د حريت او ازادۍ او د دښمن د شومو او ناوړو موخو د مخنيوي سمبول ګرځېدلی دی.

که شهادتونه نه وای، د موته په ډګر کې به د مسلمان لښکر د بري نغارې نه ډنګېدلای، که د مشرانو (عبد الله بن رواحه، زيد بن حارثه او جعفر بن أبي طالب / جعفر طيار رضی الله عنهم) قربانۍ او ځان ځارونې نه وای، د اسلام درې زره نفريز لښکر به د لکونو رومي لښکرو په وړاندې نه وای غالب؛ هغه چې عقل يې ترمنځ تقابل او د مسلمانانو برې محال ګڼي.

که شهادتونه نه وای، نن به امارت د يو نظام په حيث د افغانستان په جغرافيه نه وای حاکم، که د منصور وجود نه وای کباب شوی، د وزير اکبرخان په تپه به د عظمت او پرتم ننداره نه کېدای، د ارګ په ماڼۍ کې به د نکټايي اغوستونکو پرځای پګړۍ وال نه وای.

موږ د حريت او ازاد ټولنيز ژوندانه بقاء په شهادت کې وينو، موږ دا حقيقت ګڼو چې شهادتونه لکه څنګه چې د نظام د احياء په برخه کې رول لري، د نظام په استحکام او بقاء کې هم رغنده رول لري.

د دښمن دې غوړونه خلاص وي، موږ ته د شهادتونو کيسې کوم نوی څپرکی نه دی، دا زموږ د ضخيم تاريخ په کتاب کې هغه څپرکی دی چې د لمر په څېر ځلېږي، همدا زموږ نظام د شهيدانو په وينو خړوب دی، که ذهن دې له دې دوره مخکې څه نشي درک کولای، همدا قائم قيادت مطالعه کړه، ترڅو درته جوته شي چې موږ او د شهادت ترمنځ کوم تړاو او نسبت دی.

موږ هر سبا او هر بېګا د شهادت په هيله پيلوو، موږ که شهادت نه غوښتلای، ولې به د ابر قدرت (امريکا) په وړاندې په سنګر کې ودرېدی، موږ په شهادتونو نه ختميږو، دلته د نظام هر بچی ځان د نظام په خدمت او استحکام مکلف ګڼي او ترڅو چې دا انګېزه موجوده وي د نظام هر يو لاروی د بل بديل جوړېدلای شي.

# څلورم فصل
# سياسي او ټولنيزي

## د ۱.۱.۱ د بالمثل سياست غوښتونکی دی !

لیکنه: ولي الله عمري

د افغانستان اسلامي امارت مخته ورونکي د اسلام د مبارك دين، د اهل السنة والجماعة پيرويان او د حنفي فقهي پلويان دي، اهل السنة والجماعة په عقيدوي لحاظ منځلارې او معتدله عقيده ده، چې نه افراط پکښې دی نه تفريط.

همدا راز په فرعي مسائلو کې د حضرت امام اعظم ابوحنيفة رحمه الله مذهب منځلارى مذهب دی، چې د ژوند ټولو چارو ته په معتدله توګه حل لارې لري، د ژوند په ټولو لارو چارو کې اعتدال تل پايېدونکی وي او بقا لري.

د افغانستان اسلامي امارت چې د حنفي مذهب پر اصولو ولاړ دی، بهرنی او داخلي سياست يې هم منځلارى او پر اعتدال متکي دی؛ په مدني مسايلو کې له ټولې نړۍ سره سالمې او له کورنيو مداخلو پاکې اړيکي غواړي.

د افغانستان اسلامي امارت هېڅکله پر نورو هېوادونو تعرض، د نورو پر حقوقو تېرى او د نورو هېوادونو په کورنيو چارو کې مداخله نه غواړي، په عين صورت د ټولې نړۍ له هېوادونو يې همدا غوښتنه ده، چې د افغانستان له اسلامي امارت سره د اعتدال په چوکاټ کې سالمې سياسي اړيکې وساتي.

د افغانستان اسلامي امارت د خپلو ټولو بهرنيو او داخلي سياسي اړيکو او سياسي تعاملاتو له پاره، د قران کريم دا آيت معيار ګرځولی دی:

فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ اعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ : (البقرة/۱۹۴)

ژباړه: که چا پر تاسو تجاوز وکړ نو تاسو هم د دوی د تجاوز په دفاع کې بالمثل تعرض ور باندې کوئ، خو تر خپل حق زيات تجاوز مه ور باندې کوئ، د تجاوز په همدې دفاع کې تقوا کوئ او په دې پوه شئ چې د الله جل جلاله تل له تقوا لرونکو سره مرسته کوي، نو تاسو هم د خپلو حقوقو په دفاع کې تقوا کوئ.

لنډه دا چې د افغانستان اسلامي امارت سياسي اړيکې او سياسي تعاملات عين د همدې مبارك آيت پر مصداق برابر دي، چې نه د نورو کفري او اسلامي هېوادونو په داخلي او

بهرنـي سياست کې مداخلې کـوي، نـه د نـورو هېوادونـو پـه منـځ کـې ستونزي غـواړي او نه د هغوی په منځ کې ستونزي جوړوي.

پـه خپـل سياسـت او هېـواد کـې د نـورو کفـري او اسلامـي هېوادونـو تجاوزونـه، مداخلـې او لاسـوهنې نـه منـي؛ کـه کـوم هېـواد د افغانسـتان او د افغانسـتان اسلامـي امـارت پـه نظـام کـې لاسـوهنه کـوي، د بهرنـي او داخلـي سياسـت اړونـد يـې سـتونزي ايجـادوي، د افغانستان اسلامي امارت دوی ته خوله ماتوونکی ځواب ورکوي.

د هيـڅ حکومـت او افـرادو تـر تاثيـر لانـدي نـه راځـي، کوښـښ کـوي چـې د افغانسـتان اقتصـاد، تعليـم، پرمختـګ، اردو، طـب او نـورې برخـې پـر پښـو ودروي، تـر څـو د ټولـو افغانانـو حقـوق ور پـوره کـړي، د کفـري نـړۍ ټـول لاسـونه لـه افغانسـتانه ور ټـول کـړي او بيـا افغانان د نورو هېوادونو ناوړه سياستونو ته مجبور نه شي.

د افغانسـتان اسلامـي امـارت د بهرنـي او داخلـي سياسـت ټولـې اعلاميـې د اسلام مبـارك ديـن لـه اصولـو سـرچينه اخلـي او هـره پرېکـړه د سـلکونو عالمانـو تـر تصديـق وروسـته تطبيقـېږي، ځکـه خـو د افغانسـتان اسلامـي امـارت لـه نـړۍ او ګاونډيانـو د بالمثـل نيـك پـر اسلامـي اصولو ولاړ او د بشريت ساتنې له چوکاټ سره برابر وي.

يـا پـه بلـه اصـطلاح د افغانسـتان اسلامـي امـارت سياسـت يـو معتـدل او لـه ټولـو اړخونـو برابـر شـرعي سياسـت مختـه وړي، چـې د خپلـو اتباعـو ترڅنـګ د ټولـي نـړۍ د انسـانانو حقـوق پکـې خونـدي دي او هيڅکلـه د نـورو پـر حقوقـو د تيـري سياسـت نـه غـواړي؛ نـو لـه ټولـي نړۍ غواړي چې دوی له افغانستان اسلامي امارت سره سالم او معتدل سياست وکړي.

# تحريك طالبان پاكستان د افغانستان ستونزه ده که د پاکستان !؟

**ليکنه: مفتي ابو حارث**

له ډېرې مودې راهيسې، د پاکستان دولت هڅه کوي چې د ټي ټي پي د موجوديت په اړه په ملي او نړيواله کچه دا مسله راپورته کړي چې ګواکې د تحريك طالبان پاکستان غړي د افغانستان له خاورې څخه په استفادې پاکستان ته ننوځي او هلته له خپلو عملياتو او فعاليتونو څخه وروسته بېرته افغانستان ته ستنېږي. په داسې حال کې چې د افغانستان د اسلامي امارت له لوري دې تور ته همېش داسې ځواب ورکړل شوی، چې تحريك طالبان پاکستان د پاکستان داخلي ستونزه ده او د افغانستان خاوره د هيڅ کوم ګاونډي هېواد پر ضد نه کارول کېږي. البته يو شمېر هغه کډوال چې د پاکستان له ظلمونو او وحشتونو څخه تنګ شوي وو، د ۲۰۱۰م کال څخه تر ۲۰۱٤م کال پورې دوی په داسې حال کې افغانستان ته د مهاجرينو او پناه غوښتونکو په توګه راغلي وو چې امريکايي ځواکونه او متحدين يې هم په افغانستان کې موجود وو، او هغه پاکستاني کډوال چې په خوست او ځينو نورو ځايونو کې دا مهال اوسيږي، هغوی خو نه وسلې لري او نه هم له تحريك طالبان پاکستان يا ټي ټي پي سره کوم تړاو لري، د دوی ژوند هم د کډوالو د نړېوالو قوانينو له مخې په هغه ډول تېرېږي په کوم ډول چې کډوال په پاکستان، ترکيه او نورو هېوادونو کې ژوند کوي.

د داسې دولتي او سرکاري تورونو د حقيقت او د هغوی د ځوابونو د پوهېدو لپاره، ځينې په حقايقو ولاړې داسې پوښتنې راپورته کېږي، چې شايد په ټولنيزو رسنيو کې د رندو او بې کفايته فعالانو او د ژورناليزم د لوړو برجونو څخه د سرکاري فرمايشاتو مطابق د لوړو او بې ځايه دعوه کوونکو خبريالانو د سترګو خلاصولو او پوهېدو لپاره په کار راشي، **ان اريد الا الاصلاح ماستطعت وماتوفيقى الا بالله**

**لومړۍ پوښتنه:** پاکستان دعوه کوي، چې موږ په (۲۷۰۰) کيلومتره سرحد باندې دولس فوټه لوړ او پنځه فوټه پنډ مضبوط اغزن تارونه په داسې انداز لګولي چې انسان څه، بلکې د ځنګل يو کوچنی حيوان هم پکې نشي داخلېدلای، همدا راز په هرو دوو سوو او درې سوو ميټرو کې يوه قوي پوسته هم وجود لري، هره پوسته له بلې

پوسـتې سـره مخابراتـي اړيکـه لـري او ګرزمـې ترسـره کـوي، همـداراز پـه ټـول سـرحد باندې سرکونه هم تېر شوي دي.
او د هـرو لسـو پنځلسـو پوسـتو پـه منـځ کـې يـو سـتر پوځـي کمـپ هـم جـوړ شـوی، چـې هلتـه د تـازه دميـو پوځـي سـرتېرو سـره سـره هرقسـم خوارکـي توکـي او ټـول طبـي خدمتونـه او اسـانتياوې شـتون لـري، او پـه هـره پوسـته کـې پنځـه شپږ مسلح او چمتـو پوځيـان ناسـت وي، چـې د جـي تـري، درازکـوف، ابـل ابـم جـي پـه شـمول پـه کڼـو پرمختلليـو او عصـري وسـلو سـمبال وي، همـداراز پـه هـره پوسـته بانـدې د اويـا اتيـا لکـو روپيـو پـه قيمـت داسـې لېـزري کمـرې نصـب شـوي چـې کـه چېرتـه د شـپې پـه تکـه تـوره تيـاره کـې پـه پنځـه سـوه ميټـره کـې يـوه مرغـۍ وزر هـم ورپـوي، نـودا هـم د دوی پـه کنټـرول کـې وي. پـه هـرو شـلو او دېرشـو ميټـرو کـې د شـپې پرمهـال نـوی پرمختللـی سنسـري نظـام د اتومـات کروپونـو پـه شـکل کـې فعـال دی چـې د ژونـدي شـي لـه راتـګ سـره يـې رڼـا نـوره هـم زياتېـږي، د دې نـوي سسـټم پـه مـټ د شـپې پرمهـال د سـرحد سـاحه ښـه ځرګنـده ليـدل کېـږي. پـدې سربېره پـه ځمکـه بانـدې يـې داسـې عجيـب يـو برقـي او سنسـري نظـام فعـال کـړی چـې کـه چېرتـه کـوم ژونـدی حيـوان اغـزن تـار تـه نېـږدې راشـي، نـودا سېسـټم پوسـتې تـه د هـارن (زنـګ) ورکولـو پـه شـکل کـې خبـر ورکـوي، همدارنګـه د پاکسـتان د دفـاع وزارت رسـمي او معتبـرو سـرچينو د دې خبـرې تاييـد کـړی چـې د پاکسـتاني رياسـت لـه لـوري د سـرحد د سـاتنې او څارنـې لپـاره اتـه سـوه کوچنـۍ او غټـې ډرون الوتکـې ځانګـړې شـوي دي، چـې پـه دې کـې د مرميـو او توغنديـو د توغولـو او همـداراز د جاسوسـۍ هـرډول سيسـتمونه او آلات نصـب شـوي دي. د دې ټولـو انتظاماتـو باوجـود لـه سـرحد څخـه لېـرې پـه يـو کيلومتـرۍ کـې پـه پرمختلليـو وسـلو سـمبال د ځانګـړو کوماندويـي ځواکونـو او پوځـي سـرتېرو قطعـات هـم پـه مختلفـو سـيمو کـې پـه کمينونـو کـې د دې لپـاره ناسـت وي چـې کـه چېرتـه کـوم تروريسـت د دې ټولـو حصارونـو لـه ماتولـو څخـه وروسـته بيـا هـم راداخـل شـي، نـو د هغـه علاج بـه پـه کميـن ځايونـو کـې د ځانګړيـو ځواکونـو پـه مـټ کېـږي، د دې ټولـو انتظاماتـو څخـه وروسـته پاکسـتان امريـکا تـه دا اطمينـان ورکـړ چـې د سـرحد لپـاره ځانګـړې شـوې سـتاسـې د زرهـاوو مليـن ډالـرو لـه مصرفولـو څخـه وروسـته مـوږ تاسـې تـه بشـپړ اطمينـان درکـوو چـې اوس نو پـه ډيورنډ کرښـه باندې يوه مرغـۍ هم زموږ له ليدو څخه پرته وزر نشي رپولای.

بایـد ووایـو، چـې پورتـه ذکـر شـوي امنیتـي تدابیـر او انتظامـات کـوم خیـال نـه بلکـې د سـترګو لیـدل شـوی یـو ښـکاره حقیقـت دی، چـې پـدې کار او لـوړ انتظـام بانـدې د پاکسـتاني ریاسـت اداري پـه یقینـي توګـه د سـتاینې وړ دي. حقیقـت دا دې چـې دا ډول انتظامـات خـو د روس پـه څېـر پرمختللـي هېـواد د اوکرایـن د منظـم پـوځ پـه وړانـدې (چـې د امریـکا پـه شـمول د ټولـې اروپـا ملاتـړ هـم لـه ځانـه سـره لـري او پـه هرقسـم وسـلو او وسـایلو سـمبال دی) نـدي برابـر کـړي او نـه هـم اسـرایلو دا ډول انتظامـات د حمـاس د باعزمـه مجاهدینو په خلاف برابر کړي.

اوس لومړی‌پوښتنه دا ده؛ چې د داسې سختو او پرمختللیو انتظاماتو او حصارونو باوجود د تحریـك طالبـان پاکسـتان مجاهدیـن څنګـه د پاکسـتان پـه خـاوره قـدم کېښـودلای شـي، او بیـا تـر چتـرال، سـوات، پېښـور، ډېـره اسـماعیل خـان، ډېـره غـازي او آن تـر بلوچسـتان پـورې ځـي او کامیـاب بریدونـه کـوي. دا فلسـفه لږترلـږه زمـا د نیمګـړې پوهـې څخـه لـوړه ده، بالفـرض کـه چېرتـه د پاکسـتان دا دعـوه د څـو دقیقـو لپـاره ومنـو هـم شـي، چـې پـه واقعـي توګـه د تحریـك طالبـان پاکسـتان مجاهدیـن د افغانسـتان لـه خـاورې څخـه پـه اسـتفادې پاکسـتان تـه داخلېـږي، پداسـې حـال کـې چـې زمـوږ د معلوماتـو لـه مخـې د افغانستان اسلامي امارت په سرحد باندې پنځه سلنه کار هم ندی کړی.

نـو پـه داسـې حـال کـې د تحریـك طالبـان پاکسـتان د مجاهدینـو د فعالیـت ټولـه پـړه پـه ځـای د دې چـې د افغانسـتان پـه اسلامـي امـارت واچـول شـي، بایـد پـه خپـل ګرېـوان کـې وکتل شي.

کـه چېرتـه یـو لـور تـه د پاکسـتان اداري د پورتـه ذکـر شـویو انتظاماتـو بانـدې د سـتاینې وړ دي خـو بـل لـور تـه بیـا کـه د تحریـك طالبـان پاکسـتان مجاهدیـن د دې ټولـو انتظاماتـو او حصارونـو باوجـود د سـرحد پـه اوښـتو کـې کامیابېـږي، نـو هغـوی خـو بیـا پـه زرهـاوو ځلـه د ستاینې وړ دي.

او بـل لـور تـه، د کتونکـو پـه وړانـدې دا د تحریـك طالبـان پاکسـتان د مجاهدینـو د حقانیـت او سـپېڅلتوب یـو سـتر دلیـل هـم دی، چـې صحابـه کرامـو رضـي الله تعالـی عنهـم تـه سـمندرونو لارې ورکـړې وې او د تحریـك طالبـان پاکسـتان مجاهدینـو تـه بیـا د آسـمانڅکو غرونـو پـه منـځ کـې د دې ټولـو انتظاماتـو، حصارونـو او سـختیو باوجـود لارې پیـدا کېـږي چـې د سـمندري لارو څخـه ډېـرې سـختې دي، نـو آیـا د داسـې سختو انتظاماتـو

باوجـود د پاکسـتاني دولـت لـه لـوري د تحريـك طالبـان پاکسـتان د مجاهدينـو پـره پـه اسلامـي امـارت اچـول يـو سـتر ښـکاره حماقـت او همـداراز د تحريـك طالبـان پاکسـتان د مجاهدينو په وړاندې د خپلې ماتې اعلان ندی !؟

دوهمـه پوښـتنه: د پاکسـتان معتبـرو سـرچينو ادعـا وکـړه چې رياسـتي ادارو د اکتوبـر مياشـتې پـه وروسـتی لسـيزه کـې د باجوړ او ديـر پـه سـرحدي سـيمه "درکـی" کـې د ملاکنډ ولايت د والـي مرسـتيال "محتـرم اسـتاد قريښـي صاحـب" او همـداراز د نوموړي د زوی او زوم پـه شـمول نهـه تنـه مجاهديـن پـه شـهادت ورسـول، چې وروسـته د تـي تـي پـي معتبـرو سـرچينو هـم د دې خبـر تائيـد وکـړ، او همـداراز د ملاکنـډ ولايـت والـي محتـرم مولـوي عظمـت اللـه لالا صاحـب هـم د دې خبـرې تائيـد وکـړ او وويـل چې يـاد مجاهديـن د باجـوړ لـه مرکـزونـو څخـه د سـړك پـه لار د سـوات پـه لـور روان وو، چې دا د دې خبـرې ښـکاره دليـل دی چې پـه سـوات، باجـوړ او ديـر کـې د تحريـك طالبـان پاکسـتان ګڼ شـمېر مرکـزونـه او مجاهديـن شـتون لـري او همـداراز پـه همېشـنی ډول پـه يـادو سـيمو کې پـه پـوځ او امنيتـي ارکانونـو بانـدې د مجاهدينـو بريدونـه يـادې دعـوې تـه لا تقويـت وربښـي، اوس د دې بريدونـو او مرکـزونو پره او تور په اسلامي امارت باندې اچول له عقل څخه ډېر لوړ دی.

درېيمـه پوښـتنه: د تحريـك طالبـان پاکسـتان لـه تنظيمـي جوړښـت او لايحـو څخـه دا معلومېږي، چې دوی پاکسـتان پـه دوه برخـو (جنوبـي زون او شـمالي زون) تقسـيم کـړی، پـه جنوبـي زون کـې کوهـاټ، بنـو، ډېـره اسـماعيل خـان، ټـول بلوچسـتان، سـند او د جنوبـي پنجـاب مربـوط سـاحې شـاملې دي، او پـه شـمالي زون کـې بيـا ملاکنـډ، پېښـور، مـردان، هـزاره او شـمالي پنجـاب راځـي، هـر ډوېـژن تـه يـې د ولايـت او هـر تحصيـل تـه يـې د ولسـوالی حيثيـت ورکـړی دي، د دې تقسـيم د بيانولـو مقصـد دا دی چې شـاوخوا پـر پنځلسـو واليانـو او پـه لسـهاوو ولسـوالانو بانـدې يـې دا لازمـه ګرځولـې چې دوی بايـد د جنـګ پـه عملـي ميـدان کـې قـرار او شـتون ولـري، چـې د دې ښـکاره دليـل د رهبـري شـورا غـړی محتـرم مفتـي مزاحـم صاحـب چې د تحريـك طالبـان پاکسـتان مخکينـی نائـب امیـر او وزيـر دفـاع هـم تېـر شـوی، او دا مهـال د جنوبـي زون د نظامـي کمېسـيون مسـؤل هـم دی، نومـوړي پـه يـو ويډيويـي پيغـام کـې پـه ښـکاره توګـه ويلـي چې مـا د جنوبـي زون د مختلفـو مرکـزونـو څخـه ليدنـه وکـړه، چېرتـه چې لـه سـرحد او مرکـزي سـاحو څخـه پرتـه پـه هـره سيمه کـې د طالبانـو مراکـز شـتون لـري، طالبـان پـه ښـکاره توګـه پـه بازارونـو، حجـرو

او مسجدونو کې کرځي، او ځايي خلك هم خپلې فيصلې د تانو په ځای د طالبانو د ځايي قاضيانو له لارې حل کوي. همداراز د رهبري شورا کې شمېر نور غړي هم د مرکزنو په ځای د جنګ په عملي ميدان او محاذ کې موجود دي، چې له دوی څخه يو يې مولوي طه صاحب دی چې د رهبري شورا د غړيتوب ترڅنګ دا مهال د احتسابي کمېسيون د غړي په توګه د محاذونو په څارنه بوخت دی، د رهبري شورا يو بل غړی محترم بلال فاروقي صاحب چې د زون د استخباراتو مسؤل او د اقتصادي کمېسيون مسؤل هم تېر شوی، دا مهال په محاذونو کې د مجاهدينو سره څنګ په څنګ قرار لري، آيا د پاکستان رياست په دې حقيقت ندی خبر، او که پاکستان په قصدي توګه په اسلامي امارت باندې الزامونه او تورونه لګول خپل عبادت کڼي !؟

**څلورمه پوښتنه:** موږ وينو چې مولانا فضل الرحمن صاحب او همداراز نور کن شمېر سياستوال تل د دې وېرې څرګندونې کوي، چې د تحريك طالبان پاکستان مجاهدين په دومره لويه کچه په قبايلي سيمو کې موجود دي چې آن د شپې پرمهال خو په اکثرو بازارونو او څلور لاريو کې د طالبانو حکومت وي، او د حکومتي ولکې او کنټرول په نوم هيڅ شی وجود نلري. بلکې په دې وروستيو وروځو کې خود تحريك طالبان پاکستان مجاهدين د خيبر ايجنسۍ، باړې، متنو او همداراز د کرمې او اورکزيو ايجنسيو په عام سړکونو او چوکونو کې په مسلح شکل ګرځې ترسره کوي او کنې ويډيويي صحنې يې هم خپرې شوي دي. او په ځانګړي توګه د ډېره اسماعيل خان او بنو ولايت خو ډېره سيمه د طالبانو په ولکه کې ده، د اکتوبر په ۲۶مه د ډېره اسماعيل خان ولايت کمشنر او نورو امنيتي ادارو دا خبرداری ورکړی و، چې حکومتي وکړي دې د ډېره اسماعيل خان او ټانك په عمومي سړك د سفر کولو پرمهال ډېر احتياط وکړي، د شپې پرمهال دې سفر نه کوي، آيا دا ټولې خبرې د دې ښکاره دليل ندی چې د تحريك طالبان پاکستان مجاهدين د پاکستان په خاوره دا وخت موجود دي !؟

**پنځمه پوښتنه:** د پاکستاني رياست کنو لوړپوړو چارواکو څو څو ځلې په عمران خان او جنرال باجوه باندې دا ډول نيوکې کړي چې دوی د جنرال فيض حميد په مټ چې د اسلامي امارت په درېيمکړي توب چې تر يو کال پورې کوم مذاکرات روان وو، پدې جريان کې تر دېرش زرو پورې طالبان ملاکنډ دوېژن او قبايلي سيمو ته داخل

شـوي وو، کـه چېرتـه دا نيوکـې او څرګندونـې حقيقـت ولـري، نـو بيا پـکار ده چې د اسلامـي امـارت پـه ځـای لـه يـادو ذکـر شـويو اشـخاصو سـره حسـاب وشـي، دلتـه ولـې د انصاف لمن پرېښودل کېږي !؟

شـپږمه پوښـتنه: ستاسـې بـه يـاد وي چـې پـدې وروسـتيو کـې پـه خيبـر ايجنسـی، تيـراه، جنوبـي او شـمالي وزيرسـتان کـې ګنـې ډرون حملـې وشـوې، چـې پـه نتيجـه کـې يـې ګـڼ شـمېر عـام خلـک شـهيدان او زخميـان شـول، پـه ميرعلـي بـازار کـې يـې بـې دربغـه فاسـفورس بمونـه وغورځـول او دا بهانـه يـې وکـړه چـې ګـواکـې دلتـه دهشـت ګـرد موجـود دي، همـداراز پـه لکـي مـروت، ميانوالـي، ګنډاپـور، ټانـک، بنـو، صـدې، ايـف آر پېښـور، پېښـور، مـردان، ديـر او شـانګلې کـې مجاهديـن پـه ازاده توګـه خپـل تـګ راتـګ او جهـادي ژونـد کـوي، آيـا دا مجاهديـن هـم پـه دومـره لويـه کچـه لـه افغانسـتان څخـه داخـل شـوي او پـه سـلهاوو کيلومتـره واټـن څخـه لـه تېرېـدو وروسـته يـادو سـيمو تـه داخـل شـول، او نمبـر ون اسـتخباراتي ادارو تـه هيـڅ معلومـات ونشـول. آيـا د تحريـک طالبـان پاکسـتان مجاهدين پيريان دي چې دې ادارو ته کوم خبر ندی ور رسېدلی.

اصلـي خبـره دا ده، چـې رياسـتي اداري د خپلـو ډېـرو ظلمونـو، وحشـتونو لـه املـه د مظلـوم پاکسـتاني ولـس د مـال او عـزت داړه مـاران جـوړ شـوي دي او د دې مظلـوم ولـس پـه معدنونـو او قومـي ذخايـرو بانـدې يـې د ولکـې لـه املـه خپـل حيثيـت بايللـی دی، او د هـرې کورنـی څـو وګـړي پـدې عـزم د تحريـک طالبـان پاکسـتان پـه ليکـو کـې شـاملېږي چـې نـور نـو دا وحشـي داړه مـاران او ظالـم رژيـم د ډنـډې څخـه پرتـه د بـل شـي پـه زور نـه پوهېـږي، لـه همـدې کبلـه د تحريـک طالبـان پاکسـتان پـه ليکـو کـې هـره ورځ د پـام وړ پرمختـګ ليـدل کېږي، چې دا د دوی په برياليتوب او کاميابی کې يو پټ راز ثابتېدلای شي.

لـه دې څخـه پرتـه نـورې پوښـتنې هـم را ولاړېـدلای شـي، مګـر خـو چـې څـوک پـه رېښـتيني مانـا د حق په لټه کې وي، د هغـوی لپاره يـو دليـل هـم بسـنه کـوي، خـود ضـدي او ناپوهـه خلکـو علاج بيـا ناممکـن دی. لـه الله تعالـی څخـه دعـا کـوو چـې دا خـاوره د امـن او ثبـات ټاټوبی وګرځوي او په اسلامي نظام او سپېڅلي امارت يې ونازوي.

آمين يارب العالمين وصلی الله تعالی علی خير خلقه محمد وأله وصحبه اجميعين

# ټرمپ د ډانګ او پړانګ تر مينځ !

**ليکنه: احمد منصور**

ټرمپ دويمـه دوره داسـې مهال پيلـوي، چـې هېـواد يـې لـه خـورا سـترو چلېنجونـو سـره مخامـخ دی، دا ځـل بايـد نـرۍ نـه، امريـکا بايـد پـه دې فکـر/اندېښـنه کـې شـي چـې څـه بـه کـوو؟ له شرق سره په واقعي معنا رقابت ته ننوتلې.

مخکې لـه دې چې موضـوع ته تفصيلاً ننـووځـو، د امريکا وروستيو ټاکنـو ته به سر ورښکاره کړو؛ دا يو حقيقت دی چې په نړۍ کې مروج انتخابات نمايشي دي، د لومړۍ درجې هېوادونه يې له دې امله په رسنيزه او فزيکي برخه کې جدي نيسي، تر څو وښايي چې مونږ دېموکراسۍ ته ژمن يو او د اولسونود خوښې نظامونه په همدې طريقه د راتلو امکان لري.

حال دا چې رئيس جمهور له مخکې انتخاب شوی او په يو ډول د خلکو آذهانو کې تنوير شوی وي، د امريکا وروستيو انتخاباتو وښوده چې د ښځو ارونـد دريځ او عمل يې خورا متفاوت دی، که څه هم ځانونه د ښځو د حقوقو مدافعين او له نرانو سره يې مساوي بولي.

اوس پوښتنه دا ده چې ولې نوماندهٔ کاملا هريس بريالۍ نه شوه؟ حال دا چې نران رئيس جمهوريان تجربه شوي، اکثر سياسي شنونکي په دې آند دي چې امريکا د ښځې له واکمنۍ سره نه جوړ او نه په هغه مقام ورته قائل دي چې وخت په وخت رسنيو کې پرې څرګندونې کوي.

خير راځو موضوع ته؛ چې څنګه ټرمپ د ډانګ او پړانګ تر مينځ ګير شوی؟ ټرمپ له بريالیتوب مخکې او وروسته داسې څرګندونې کړې چې هم به پرې عمل او هم به پرې سکوت ورته په ډېر زيان تمام شي؛ لکه فلسطين، لبنان او اوکراين کې د جګړو ختمولو او د باکرام د بيا نيولو ادعاوې يې.

که چيرې د منځني ختيځ جګړې ختموي، دا خو ښکاره ده چې د زور آپشن هلته بې پايلې ثابت شوی؛ نو بيا به له سوليېزو لارو هڅې کوي، تر څو جګړې ته د پای ټکی کېښږدي، دا به هم يو څه جنجالي وي؛ ځکه حماس له خپلو حقوقو نه تېرېدونکی معلومېږي او نتنياهو ته به د حماس د حقوقو ورکړه خپله ماته او شکست وبريښي.

همدا ډول د اوکراين او روسيې قضيه يو څه د فلسطين قضيې ته ورته ده، روسيه په هيڅ معنا دې ته تياره نه ده چې له اوکراين شاتګ وکړي؛ ځکه فعلي دبدبه يې

ختموي او اوکراین به له دفاعي حالت لاس په سر نه شي، هو په یوې طریقه امکان لري چې د اوکراین او روسیې جګړه ودروي، هغه داسې چې امریکا په اوکراین خپلې ټولې مرستې بندې کړي.

لنډه دا چې پورتنۍ قضایاوې امریکا ته خورا پیچلې دي، دې دوارو مکانو کې به په دوه صورتو کې حتماً امریکا ماته خوري؛ که یوه مکان کې یې ماته وخوړه بل کې یې هم لازمي کیږي.

د باګرام د نیولو ادعا یې:

خو مخکې د دې موضوع له څېړلو باید په دې تبصره وکړو، چې ا.ا.ا له تېر څخه خورا په پیاوړي انداز نظامي، سیاسي او فرهنګي ډګر کې را ظاهر شوی، سیمه یې په لوړ سیاسي درایت په دې قانع کړې چې ثبات او پرمختګ مو په تعامل او اقتصاد محوره سیاست کې ده، که فرضاً ټرمپ خپلې کمپاینې ادعا ته د عمل جامه ور اغوندي نو له دوو زیانو سره به مخامخ کیږي.

(۱) خپله عملاً د دوحې تړون نقضوي، چې دا به په نړۍ واله سطحه د امریکا حیثیت ته نه تنها صدمه رسوي؛ بلکې دا آند یقیني کوي چې امریکا د باور وړ نه ده.

(۲) ټرمپ د دې عمل په تر سره کولو سره به شرقي بلاک پیاوړی کړي.

تښتېدلي جمهوریتیان بیا وایي؛ شاید ټرمپ د خپلې ادعا عملي کېدو په موخه څلوېښت ملیونه میاشتنۍ مرستې بندې کړي، که دا کار وکړي په دې صورت کې هم امریکا زیانویني، ځکه که مرستې د افغان اولس لپاره رالیږي بیا د بشر ساتنې او حقوقو په ادعاوو یې د نړۍ‌دا شك چې نمایشي دي په یقین بدلیږي.

که د تښتېدلیو په وینا؛ چې یادې مرستې طالب ته راځي، امریکایي حکومت به د خپل اولس له کلك غبرګون سره مخ شي، خو په خپل ذات کې د یادو مرستو بندښت به په هغه پیمانه په ا.ا.ا منفي اغیزونه کړي چې مخالفین یې انګیري، هو په دې صورت کې به هم امریکا د خپل مخالف بلاك نفوس زیات کړي.

لنډه دا چې ا.ا.ا له تیرو ډېر څه زده کړي، متوازنه پالیسي، لوړ سیاسي درایت او د ډیالوګ موثریت یې د مخالفینو ټولې حربې شنډې کړي، خو امریکا خپلې جګړیزې پالیسۍ د هلاکت کندې ته نیږدې کړې؛ نو ځکه ویلی شو چې په فعلي حالاتو کې ټرمپ/امریکا د ډانګ او پړانګ تر مینځ ده، په دې دوارو کې به یو امکان دا ولري چې یادې کندې ته یې ور وغورځوي.

# د هر شر ريښې تر تاسو در رسي

لیکنه: عبدان صافي

پاکستاني دولتي چارواکي هره ورځ د نړيوالو مطبوعاتو سره په خبرو کښېږي، پرته له کوم دليل او ثبوت څخه؛ په افغانستان الزامونه لګوي، چې ښکاره او پواځينی موخه يې د افغانستان او اسلامي امارت بدنامول دي.
که د پاکستاني چارواکو ددې کړنو تر شا پټو عواملو ته وکتل شي؛ نو په دې پوهېدلای شو، چې د دې هر څه تر شا د پاکستان داخلي سياسي، ټولنيز او اقتصادي بد وضعيت دی، چې پاکستاني چارواکي يې وار خطا کړي دي، په دې بد حالت کښېږي دوی نه پوهېږي؛ چې څنګه خپلو خلکو ته قناعت ورکړي، خلك هم د دوی له دروغو او مکرجنو وعدو، نور ستړي شوي دي، ځکه دوی د خپلو ناکاميو د پټولو لپاره افغانستان ته ګوته نيسي.
څو ورځې وړاندې، يوه پاکستاني چارواکي اصف دراني د يوې مطبوعاتي ادارې سره په خبرو کښېږي، يو ځل بيا خپل تورونه تکرار کړل، چې نه صرف له حقيقت څخه لري و؛ بلکې د پاکستان د ناوړه خواهشاتو په تکرار ولاړ و.
اصف دراني په خپلو خبرو کې وويل، چې افغانستان دې د تحريك طالبان پاکستان جنګيالي، پاکستان ته وسپاري؛ نو ستونزه به هواره شي، نو محترم اصف دراني صاحب! ! د ټي ټي پي جنګيالي په افغانستان کښې هيڅ وجود نه لري، بلکې هغوی د وزيرستان، خيبر او مومندو په غرونو، کليو او کوڅو کې ولټوئ، هلته يې آسانه پيدا کولای شئ، خو که هلته نه وه؛ بيا يې د پېښور، کوټې، بنو، ډېره اسماعيل خان او ټانك په ښارونو کې پيدا کولای شئ، ځکه هغوی پټ نه دي، بلکې ښکاره مرکزونه لري، که وو‌ايو چې په تاسو پسې ګرځي؛ نو مبالغه به نه وي.
دراني صاحب! دنيا ته دا ولې نه وايې، چې تاسو د خپل کور په ساتنه کې ناکام ياست، ځکه يې نه واياست؛ چې ستاسې مقابله د خپل کور له خلکو سره ده، چې ستاسو د کور د هرې لارې په اړه، په هر څه پوهيږي، تاسو د هغوی مخنيوی نه شی کولای؟ ! د خپلې ناکامی ګوته بل ته نيول؛ په حقيقت کې په خپلې ناکامی

اعتراف دی او د خپلې ذمه وارۍ نه تېښته ده.
اصـف درانـي د خپلـو خبـرو پـه دوام، پـه افغانسـتان کـې د خلکـو د حقونـو يادونـه هـم وکـړه، خـو پـه دې بيـا غلـی پاتـې شـو، چـې د کومـو حقونـو غوښـتنه دوی پـه افغانسـتان کې کوي، هغه دده په خپل وطن پاکستان کې؛ خلکو ته ور کړل شوي دي؟
د وزیرستان نه تر بلوچستان پورې؛ په کمزورو او محکمو قومونو څه تيرېږي؟
د پښتونخوا او بلوچستان د خلکو نه، د ژوند کولو حق نه دی اخيستل شوی؟
د هغوی کورونه وران او وسايل يې د دولت له خوا په زوره نه دي لوټل شوي؟!
تاسو د نسلي او مذهبي وېش پر بنياد خپله ټولنه نه ده ويشلې؟
کـه تاسـو پـه خپلـو خبـرو کـې رښـتيني ياسـت، نـو بيـا د افغانسـتان خلکـو تـه د حـق غوښتلو پـه ځـای؛ خپلـو خلکـو تـه حقونـه ور کـړئ، ځکـه پـه افغانسـتان کـې اوس يـو اسلامـي نظام‌قايـم شـوی دی، چـې د هـر چـا د مـال، عـزت او حقونـو څخـه دفـاع کـولای شـي، الحمدلله.
اصـف درانـي د خپلـو تورونـو پـه دوام وويـل، چـې پـه افغانسـتان کـې ترهـګرې ډلـې وجـود لـري؛ چـې نـړۍ تـه لکـه د بـل نايـن اليـون غونـدې خطـر جوړولای شـي، چـې پـه دې اړه يـې د داعـش خراسـان څانګـې ځانګـړې يادونـه وکـړه، خـو ولـې بـه يـې نـه کولـه، ځکـه د داعـش خراسـان څانګـه هـم د دوی نيابتـې ډلـه ده؛ چـې پـه نړيوالـو رسـنيو کـې د کمپايـن په خاطر يې پاکستاني چارواکي يادونه کوي.
دا حقيقـت اوس روښـانه دی، چـې د داعـش خراسـان څانګـې؛ جنګيالـي او مشـران پـه بلوچسـتان، خيبـر، باجـوړ او ديـر کـې اوسـي او هلتـه ښـکاره مرکزونـه لـري، د پاکسـتان د پـوځ پـه ميلمسـتونونو کـې خپلـې منصوبـې تنظيمـوي؛ چـې بيـا يـې پـه افغانستان او سيمه کې عملي کوي.
نـو کـه د درانـي صاحـب خبـرو او د بـل نايـن اليـون پيشـبينی تـه وګـورو، نـو داسـې ښـکاري، چـې پاکسـتان د خپلـې نيابتـي ډلـې، د داعـش خراسـان څانګـې پـه ذريعـه؛ د کـوم نړيـوال ناوريـن د را منځتـه کولـو پـه لټـه کـې دی او د اصـف درانـي پـه وسـيله؛ لـه ورانـدې نـه ذهـن سـازي او تبليغـات کـوي، خـو خلـک بايـد پـه دې پـوه شـي، چـې دا ځـل کـه هـر څـه و؛ سـرچينه بـه يـې د پاکسـتان د پـوځ ميلمسـتونونه او طراحـان بـه يـې د پاکسـتان د پوځ جرنيلان وي.

# د پاکستان او امريکا ګډ پوځي تمرينات !

لیکنه :شمس الدین شهیر

په وروستيو دريو کلونو کې د شهباز شريف تر دوهمې دورې د پاکستان او امريکا اړيکې خړې پړې وې، په افغانستان کې د امريکا ماتې پاکستان سره د ياد هيواد په اړيکو هم اغېز لره، ځکه د افغانستان اشغال ته پاکستان خپله هوايي او ځمکنۍ فضا او خاوره په واک کې ورکړې وه او د افغان وژنې په لوبه کې پاکستاني رژيم خپل ځان چاغاوه او په خرو اوبو کې يې ماهيان نيول.

خو د پوځ په خوښه د روان ۲۰۲٤ کال د فبروري مياشتې په ټاکنو او په مارچ کې د نوي ايتلافي د شهباز شريف د حکومت په کار راتلګ، شريف له امريکا سره د پخوانۍ راشې درشې او ياراني تازه کولو هڅه وکړه.

د ياد هيواد د پوځ مشر عاصم منير امريکا ته ۱۲ ورځنۍ سفر ترسره کړ، چې له امريکايي لوري سره يې هر اړخيزه رغنده خبرې وکړې ترڅو د مرګ په حالت کې اقتصادي، سياسي او امنيتي وضعيت ته چنده او د ياد هيواد لپاره نوې د نورو د بربادۍ پروژې واخلي.

پاکستان چې ورځ تر بلې يې امنيتي وضعيت خرابېدونکي خواته رهي، او له اقتصادي وضعيت د ناکامۍ سره او بحراني حالت څخه د وتلو، او همدارنګه د امنيتي وضعيت د کابو کولو لپاره په افغانستان اسلامي إمارت د فشار راوړلو په موخه له امريکا او تاجکستان سره د داعشي خوارجو د پروژې اخيستلو ته را ودانګل.

د دې درې وارو هيوادونو ترمنځ ګرمه راشه درشه د شهباز شريف په حکومت کې پيل شوه، پاکستان ته د امريکا د آسيا ځانګې لپاره د بهرنيو چارو مرستيال سرپرست جان بس او نورو سفرونه ترسره کړل او هم په کراچۍ کې د امريکا او پاکستاني رژيم ترمنځ سمندري تمرينات ترسره شول، له هغه ور اخوا پاکستان تېره مياشت عزم استحکام عمليات اعلان کړل او له اعلان يوه اوونۍ وروسته يې پنجاب کې له امريکا سره ګډ ځمکني تمرينات هم ترسره کړل، چې تېره ورځ د دوو اوونيو د پاکستاني پوځ تر روزنې او په بيلابيلو برخوکې د زده کړو له ورکړې وروسته پای ته ورسېدل.

پنجاب غـواړي، لـه دې سـره د سـيميزو هيوادونـو ايـران، چيـن او روسـيې تـه پيغـام ورکـړي چـې مونـږ ترمنـځ همـکـاري او پـه سـيمه کـې د سـترو پـروژو او ګـډې همـکـاري ترسـره کولو په وړاندې خنډ او ننګونه رامنځته کولای شي.

هـم مهالـه څلـور ورځـې وړانـدې د پاکسـتان لومـړي وزيـر شـهباز شـريف د تاجکسـتان هيـواد لـه ولسمشـر سـره وليـدل، دوی پـه افغانسـتان کـې د تروريـزم پـه وړانـدې د ګـډې مبـارزې او افغانستان کې همه شموله حکومت غوښتنې وکړې.

د کـوم ترورېـزم خبـره چـې دوی کـوي، خپلـه تاجکسـتان د داعشـي خوارجـو پـه سـرباز ګيري او پاکستان ورته په خوندي پټنځايونو د برابروالي په حال کې ده.

ګـډ پوځـي تمرينـات د امريـکا او پاکسـتان د سـيمې لپـاره او پـه ځانګـړې توګـه د ډيورنـد فرضـي کرښـې د ناامنـۍ او لـه دې لارې هغـو هيوادونـو تـه يـو پيغـام لېـږل دي، کـوم چـې د افغانسـتان اسلامـي إمـارت سـره د اړيکـو د عـادي او ګـډو همکاريـو او راشـو درشـو په لټه کې دي.

دوی نـه غـواړي چـې افغانسـتان کـې يـو پـه پښـو ولاړ قـوي مرکـزي حکومـت شـتون ولـري او امريـکا هـم ددې اجـازه نـه ورکـوي چـې آسـيا حياتـي جغرافـي ارزښـت لرونکـي افغانستان واك او اړيکې خپلو پخوانيو رقيبانو (روسيې، چين او ايران) ته پرېږدي.

د امريـکا او پاکسـتاني پـوځ ګـډ پوځـي تمرينـات د مسـلمانانو پـر ضـد د غيـر شـرعي همـکـاری تسلسـل دی، چـې د پاکسـتان د آئيـن د اصولـو خلاف او د امـت لپـاره د بـې عزتـۍ سـبب ګرځـي. دا تمرينـات د امريـکا اسـتعماري اهدافـو تـه خدمـت کـوي، چـې د اسلامـي هېوادونـو امنيـت او خپلواکـي تـه ګـواښ پېښـوي. مسـلمانان بايـد پـوه شـي چـې دا ډول اړيکې زموږ د دين او خپلواکۍ سره خيانت دی، او د دې مخنيوی ضروري دی.

# سايبري جګړه؛ له خيالاتو تر حقيقتونو !

**ليکنه :منصور احمدي**

په دې ليکنه کې موږ لومړی د سايبري بريدونو بېلابېل تعريفونه بيان کړي، په بله برخه کې مو د دې جګړې په تاريخ لنډه کتنه کړې، په پای کې مو د اسرائيلو د سايبري بريدونو موخې؛ د لبنان پر وړاندې څېړلي دي.
په حقيقت کې، مجازی جګړه يا سايبري جنګ هغه ډول جګړه ده، چې پکښې د جګړې دواړه لوري؛ د کمپيوټر شبکې د وسيلې په توګه کاروي او جګړه په مجازي فضا کې پر مخ وړي.
ډيجيټل يا مجازی جګړه؛ تر ټولو نوې برخه ده، چې هېوادونه د قدرت ښودلو او واکمنۍ لپاره ورته مخه کوي، سايبري بريدونه، الکترونيکي امنيت، الکترونيکي ملاتړ او الکترونيکي بريدونه د دې ډګر مهم اقدامات دي.
د لغوي معنا په لحاظ؛ په بېلابېلو فرهنګونو کې "سايبر" د مجازي او نه لمس کېدونکي په معنی کارول شوی، د سايبري چاپېريال په اړه هم داسې تعريف شوی:
هغه مجازي او غير محسوسه فضا؛ چې په نړيوالو شبکو کې شتون لري.
په دې چاپېريال کې ټول معلومات د افرادو، کلتورونو، ملتونو او هېوادونو په اړه موجود دي او هر څه چې په فزيکي ډول په ځمکه کې شته؛ په مجازي فضا کې په ډيجيټل ډول شتون لري او د کاروونکو لپاره د لاسرسي وړ دي، دا چاپېريال د کمپيوټر او نړيوالو شبکو له لارې سره تړل شوی دی.
د ټيکنالوژۍ د پرمختګ چټکتيا دومره زياته شوې؛ چې کله کله د دې پای ته نه شو رسېدلی، له بلې خوا، سافټويرونو زموږ په ژوند کې دومره مخه کړې؛ چې آن زموږ ورځني کارونه تر اغېزې لاندې راولي.
د سايبري امنيت اهميت بايد په هغو امنيتي ماتونو کې ولټوو، چې په وروستيو کې په مهمو ادارو کې، د ياهو څخه نيولې؛ د امريکا د خزانې رياست پورې، پيښ شوي دي، په هرې يوې امنيتي ماتې کې، چې د يوه يا څو نيمګړتياوو او د امنيتي پروسيجرونو د نه تعقيبولو له امله رامنځته شوي؛ دغو سازمانونو ته له مالي او اعتباري

اړخه نه جبرانېدونکي زيانونه اوښتي دي.

احصائيې ښيي، چې د سايبري بريدونو کچه په نړۍ کې په هېڅ دول نه ده کم شوې، لوی او کوچني سازمانونه هره ورځ د بريدونو سره مخامخ کېږي؛ چې موخه يې د حساسو معلوماتو غلا يا د دوی په فعاليت کې اخلال راوستل دي.

په دې کې شك نشته، چې د ټيکنالوژۍ چټك پرمختك ځانګړي فرصتونه رامنځته کړي، خو همدا چټکتيا په ځينو چالشونو هم منتجه شوې؛ چې د سمې ادارې لپاره دقيقو ستراتيژيو ته اړتيا لري، نن ورځ د سايبري وسيلو په اړه عامه پوهاوی زيات شوی، خو په همدې حال کې بدخواه کاروني، چې ډېر تخريبي اړخونه لري؛ خپل واقعي مخ ښودلی دی.

سخته ده، چې باور وکړو؛ مجازي جګړه او مجازي وسلې يوازې يوه تيوري وه، چې د امنيت متخصصانو پورې اړوند وه او نورو ورسره کار نه درلود، تر ۲۰۰۹ مېلادي کال پورې داسې ګمان کېده، چې هغه کسان چې د تخريبي موخو لپاره پروګرامونه جوړوي؛ يوازې غلط کاران دي؛ چې غواړي مالي کټې ترلاسه کړي، نه دا چې د نورو هېوادونو رازونه غلا کړي، خو د وخت په تېرېدو دا کيسه نورو ځايونو ته هم وغځېده.

## د اسرائيلو موخه د لبنان پر وړاندې په دغه جګړه کې:

لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، سايبري جګړه له پوځي جګړې څخه ډېره خطرناکه ده او په هر پوځي بريد کې د قوماندې او کنترول په مرکزونو بريد لومړيتوب لري، په حقيقت کې هغه څه چې په خبرونو او معلوماتو کې راغلي دي، دا دي؛ چې په لبنان کې مېشتې ډلې دې پايلې ته رسېدلې وې؛ چې اسرائيل به سايبري بريدونه وکړي.

حزب الله لبنان خپلو افرادو ته امر کړی و، چې خپل موبايلونه له ځان څخه ليرې کړئ، ځکه چې د سايبري بريدونو لومړۍ نښه ضعيف موبايلونه دي، دا کار وشو، دويم ګام د ارتباطاتو لپاره بديل موندل و، ځکه چې په قوماندې او کنترول کې ارتباطات ډېر مهم دي.

همدا و؛ چې دې ډلې څو مياشتې مخکې نوې پيجرونه اخيستي و، چې ټولو ملاتړ کوونکو جنګياليو ته وويشل شول، اسرائيل له دې فرصت څخه استفاده وکړه او په پيجرونو باندې يې داسې فريکونس ولېږدوه؛ چې د دې پيجرونو د بيټرۍ درجه دومره

لوړه شوه، چې په هر ځای کې ددې کسانو په لاس کې موجود پیجرونه وچاودېدل.

د دې ډول بریدونو ناوړه پایلې:

پـه حقیقـت کـې، د دې ډول بریدونـو شـتون پـه ښکاره ښیي، چـې تکنالوژیکـي وسـایل هیـڅ امنیـت نـه لـري او سـربېره پـر دې؛ دا وسـایل د جګـړې لپـاره مهمې وسیلې دي.

پـکار ده، چـې نـړۍ د دې تکنالـوژۍ پـر وړانـدې ودرېږي، دا چـې بایـد د خلکـو د خدمـت او هوسـاینې لپـاره وکـارول شـي؛ د خلکـو د وژلـو لپـاره تـرې استـفاده کېږي، دا جګـړه بایـد پراخه نه شي.

هغـه وژنـې چـې په لبنـان کـې وشـوې، یـوازې لبنـان پـورې نـه وې محـدودې، بلکـې سوریې تـه هـم وغځېـدې؛ کـه نړیـوال د دې پدیـدې پـر وړانـدې چـوپ پاتـې شـي، دا جګـړه بـه قانونـي بڼـه واخلـي او ټولـه نـړۍ بـه ورڅخـه استـفاده وکـړي، چـې بالاخـره بـه خونـدي ځـای نـه وي، ځکـه تکنالـوژي او د نـوې تکنالـوژۍ کتـه پـه هـر ځـای کـې اړتیـا ده، کلـه چـې دا تکنالـوژي د جګـړې پـه وسـله بدلـه شـي؛ بیـا بـه پـه نـړۍ کـې د سـولې او امنیـت لپاره هیڅ خبره پاتې نه شي.

سـایبري جګـړه د تکنالوجـۍ پـه مرسـته ترسـره کېږي، چیـرې چـې هېوادونـه او سـازمانونه د انټرنیـټ، کمپیوټـر سیسـتمونو، او ډیجیټـل وسـایلو لـه لارې جګـړه کـوي. دا جګـړه نـه یـوازې د فزیکـي حملـو بلکـې د معلوماتـو غلا، هیکینګ او مالویـر لـه لارې هـم ترسـره کېږي. د سـایبر جګـړې پرمختګ او پیچلتیـا د دې اړتیـا تـه وده ورکـوي چـې د سـایبر امنیت او دفاع لپاره تحقیق او تکنالوجۍ ته پراخه پاملرنه باید وشي.

# د اسلامي امارت معتدل سياست !

**ليکنه :احمد عابد**

افغانستان چې له بدايه تاريخ او ژورو اسلامي او فرهنګي ارزښتونو سره تړلی هېواد دی، تل داسې سياست ته اړتيا لري چې هم د ديني آرمانونو ساتنه وکړي او هم د نړيوالې ټولنې سره د مثبت تعامل زمينه برابره کړي.

اوسمهال د اسلامي امارت معتدله تګلاره په حقيقت کې د دغو دواړو اړتياوو د توازن رامنځته کولو هڅه ده چې د شرعي اصولو او د هېواد د اسلامي هويت د ساتنې پر تينګار سربېره؛ هڅه کوي د افغانستان سياسي، ټولنيزې او اقتصادي ننګونې د واقعي ليدلوري له لارې مديريت کړي، دا سياست پر لاندې محورونو ولاړ دی:

**(۱) د اسلامي ارزښتونو مراعات:**

اسلامي امارت ټينګار کوي چې ټول قوانين او مقررات د اسلامي شريعت پر بنسټ وي، د اسلامي ارزښتونو ساتنه د دې سياست بنسټيز اصل دی چې په ټولو حکومتي او ټولنيزو اړخونو کې ځرګند دی، ټول قوانين د اسلامي فقهې په رڼا کې ترتيب شوي دي او هڅه کېږي چې د قرآني لارښوونو او نبوي سنت سره هر ډول مخالفت له منځه يوړل شي.

**(۲) د ديني هويت پياوړتيا :**

اسلامي امارت د خلکو د ديني روحيې د پياوړتيا لپاره کار کوي، دا کار د قرآني تعليماتو، اسلامي ښوونو د ترويج او ديني زده کړو د پراختيا له لارې ترسره کېږي، ديني مدرسې او د اسلامي علومو اړوند بنسټونه د امارت په تعليمي لومړيتوبونو کې قرار لري.

**(۳) ټولنيز عدالت:**

د اسلامي امارت له نظره عدالت د اسلام يو بنسټيز اصل دی، د همدې اصل پر بنسټ، هڅه کېږي چې د ټولنې د ټولو قشرونو حقونه خوندي شي او هر ډول ظلم او تبعيض د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ منع شي.

**(۴) د امنيت او داخلي نظم ساتنه:**

اسلامي امارت د دې لپاره هڅې کړې دي چې په ټول هېواد کې امنيت تأمين کړي او

بې نظمي ختمه کړي، دا مسئله د خلکو او حکومت تر منځ د باور د رغولو لپاره ځانګړی ارزښت لري.

**۵ له نړيوالې ټولنې سره تعامل:**

د اسلامي امارت معتدله تګلاره ټينګار کوي چې افغانستان بايد د ګاونډيو هېوادونو او نړيوالې ټولنې سره سوله‌ييزې اړيکې ولري، د دې لپاره هڅه شوې چې د بشري حقونو، د ښځو حقونو او د دوی د زده‌کړو په اړه نړيوالو اندېښنو ته د شريعت په رڼا کې ځوابونه ورکړل شي.

له نړيوالې ټولنې سره تعامل د اسلامي امارت د سياست يوه اساسي برخه ده، چې موخه يې د دوه اړخيز درناوي پر بنسټ د اړيکو ټينګول او د کډو کډو ترلاسه کول دي.

اسلامي امارت په داسې حال کې چې ملي خپلواکي ساتي او د اسلامي ارزښتونو پابند پاتې کېږي، هڅه کوي د افغانستان دريځ په نړيواله ټولنه کې له سره تعريف کړي او د نړيوال نظام په چوکاټ کې د يوه مسؤل او فعال غړي په توګه وپېژندل شي.

په حقيقت کې، اسلامي امارت خپل اسلامي هويت ساتلو ته ژمن دی او د دې مخنيوی کوي چې لويديځ ارزښتونه په افغانستان کې په جبري توګه عملي شي.

**۶ د سيمه‌ييزو اړيکو پياوړتيا:**

ګاونډي هېوادونه لکه پاکستان، ايران، چين او روسيه د امارت اسلامي د بهرني سياست په لومړيتوب کې دي، البته دا اړيکې د امنيت، سوداګرۍ او د اوبو او انرژۍ د سرچينو په مديريت متمرکزې دي.

**۷ د ملي وحدت لپاره هڅې:**

د اسلامي امارت يوه مهمه موخه دا ده چې د افغانستان د بېلابېلو قومونو او قبيلو ترمنځ يووالي ته بلنه ورکړي، تر څو کورنۍ شخړې ختمې او ملي يووالي پياوړی شي.

# تېر شل کلن اشغال او ناوړه اثرات یې

لیکنه: محمد وسیم ترین

د جمهوریت لـه جوړېدو او د امریـکا لـه راتـګ وړانـدې، د افغانسـتان پـه اسـتعمار ډېر کار شـوی و، ان د شـوروپانو د یرغـل پـه وخت کـې هڅـه کیدلـه؛ چـې د امریـکا د راتلـو لپـاره زمینه مساعده شي.

امریـکا ددې کار لپاره پـه اقتصـادي، نظامـي، علمـي، فرهنګـي او سیاسـي برخـو کـې، داسـې ذهنیـت سـازي کـړې وه؛ چـې نړیوالـو بـه پـه هـر څـه کـې، د ښـه مثـال پـه ورکولـو سره د امریکا نوم اخیست.

وخـت تیـر شـو، ۲۰۰۱ م کال راغـی، امریـکا نـوې جګـړه پیـل کـړه، خـو دا جګـړه لـه هغـه نـورو بدلـه وه، دلتـه د دوی شـعار و، چـې افـکار یـې ونیسـه؛ نـوره ځمکـه دې د دوی وي، خـود افـکارو پـه اشـغال سـره د ځمکـې ازادي هیـڅ معنـا نـه لـري، ددې شـعار د تطبیـق لپـاره یـې دلتـه رادیـو، تلویزیـون، مجلـې، کتابونـه، مختلـف سـایټونه جـوړ او پـه علمـي ځایونو کې یې کار پیل کړ.

لـه پوهنتونونـو څخـه یـې داسـې نسـل فـارغ کـړ؛ چـې یـوازې یـې مادیـات پېژنـدل، پـه خپلـه برخـه کـې نظـري روزل شـوي و، هیـڅ د عملـي کار وړ نـه و او ټولـه هڅـه یـې پـه چـل او فریب د مادیاتـو لاسـته راوړلـو، د همـدې کار لپـاره یـې د هـر ډول عیاشـۍ او فحشـا زمینـه مسـاعده کـړې وه؛ چـې د فحشـا مثـال خـو مـوږ عـملاً ولیـد، چـې د هیـواد د معتبـر پوهنتون (افغـان امریـکایـي پوهنتـون) څخـه لـه فتحـې وروسـته، پـه لسـکونو همجنسـګرایان وتښـتیدل او دا اقـرار یـې هـم وکـړ چـې مـوږ د همـدې کار لپـاره دلتـه وخـت تیـراوه، البتـه اسـتثنا وه، ځینې محصلین قوي مجاهدین او د همدې پروژو د تطبیق مخنیوي کوونکي وه.

وخـت تیـر شـو، اشـغالګرو نظامـي ماتـې وخـوړه او د ماتـې سـره سـم وتښـتیدل، خـو مونـږ یـې له ځینو داسې پیښو سره مخ کړو؛ چې هیڅ تصور یې نه کېده، لکه:

خـراب تحصیلـي نصـاب، د همـدې نصـاب پـه واسـطه د ځوانانـو خرابـه روزنـه، د اسلام د تطبیـق پـر وړانـدې همـدا تعلیـم یافتـه نسـل د خنـډ پـه توګـه، خـراب چاپیریـال چـې اوسـیدونکي یـې یـوازې مادیـات او شـهوت پیژنـي، همـدا علـت دی، چـې پـه ځوانانـو کـې مود فحشا له امله؛ مېړانه او غیرت بیخي له منځه تللي.

# په پاکستان کې روانه بد امني د پوځ د ناکامو پالیسیو پایله ده !

لیکنه: عبدان صافي

پاکستان د نړۍ د هغو هیوادونو په سر کې شمارل کیږي چیرې چې ډېره بد امني او تشدد وي، خو په دې وروستیو ورځو کې دله ییز تاوتریخوالي او سیاسي بې ثباتۍ په یاد هېواد کې حالات لا پسې ترینګلي کړي دي، د هېواد له کوټ کوټ څخه د نا امنیو خبرونه اوس د خلکو د ورځني ژوند یوه برخه ګرځېدلې ده، حالات تر دې حده را رسیدلي چې د خلکو امنیت ته د ژمنتیا پر ځای؛ پوځ او نورې اړوندې ادارې د خپل امنیت په اړه اندیښمن دي.

د معمول په څېر، پاکستاني ادارې په قصدي توګه هڅه کوي چې په پاکستان کې روانه بد امني، په ځانګړې توګه په کرمه ایجنسۍ کې روان دله ییز تاوتریخوالی، په افغانستان پورې وتړي؛ په دې کار سره، دوی هڅه کوي چې د خپلو ناکامو پالیسیو له پایلو څخه سترګې پټې کړي.

د تېرو څلورو لسیزو په جریان کې، پاکستاني ادارو فرقه ییزې ډلې جوړې کړې او د خپلو ستراتیژیکو کتو لپاره استعمال کړې؛ دوی په شعوري ډول د دغو ډلو پر وړاندې له اقداماتو ډډه کړې، څکه چې دوی غوښتل په راتلونکي کې بیا دا ډلې د خپلو موخو لپاره وکاروي.

دا فرقه ییزې ډلې په لومړیو کې د پاکستان په لویو ښارونو او پنجاب کې جوړې شوې، خو وروسته یې نفوذ د هېواد نورو برخو ته وغځېده؛ تر نن ورځې پورې، دا ډلې د پوځ او استخباراتي ادارو تر څار لاندې په مختلفو بڼو کې فعالې دي.

په دې وروستیو کې، د پوځ د ملاتړ په سیوري کې فرقه ییزو عناصرو ته بیا آزادي ور کول شوې؛ ترڅو د دوی د دله ایيز تشدد تر شا پوځ خپلې ناکامۍ پټې کړي، کنې دا څنګه ممکنه ده چې د یو بل هېواد نیابتي دله دې د خپل زیر بیرغ سره را پورته شي؛ کورونه، کلي او بازارونه دې وسوځوي، خلک دې ووژني او آن په ښکاره ډول دې د پوځ پوستې ونیسي، د پاکستان بیرغ را ښکته کړي او هلته خپل بیرغ را ځوړند کړي او پوځ دې یوازې ننداره کوي؟

دا کړنې څرګندوي، چې د دې شخړو تر شا خپله د پوځ لاس دی، کله یوې ډلې ته

ملاتړ ور کوي او کله بله دله د جګړې لپاره هڅوي.
پوښتنه دا ده؛ چې په اسلام آباد کې د ځلورو امنيتي کسانو وژل کېدل د بيړني حالت اعلانولو لپاره کافي ګڼل کېږي، خو په کرمه کې د يوې اوونۍ په اوږدو کې، له ۲۰۰ نه زيات کسانو وژل کېدلو ته هېڅ پاملرنه نه کېږي؟ دا خاموشي د پوځ او استخباراتي ادارو پاليسۍ او ارادې په ډاګه کوي.
د داخلي امنيت ساتلو پر ځای؛ د پاکستان پوځ خپلې ټولې هڅې په کورني سياسي انجنيرۍ متمرکزې کړې دي، دوی سياسي ګوندونه کمزوري کوي، ځانګړې حکومتونه ټينګوي او د خلکو د نظرونو د بدلولو لپاره هڅې کوي، خو د خپلو خلکو د امنيت ساتلو لپاره صرف نمايشي کارونه کوي او يا هم په ګاونډيو هيوادونو تورونه لګوي.
د افغانستان اسلامي امارت په خپلو وروستيو اقداماتو کې ښودلې، چې دوی د خپل هېواد په دننه کې د ډله ييزو ستونزو په حل کې جدي دي، په پرلپسې توګه يې ويلي چې دوی د امت مسلمه په يووالي باور لري او ټولې مذهبي ډلې د افغان ټولنې برخه ګڼي.
دا رښتيا ده چې پاکستان هڅه کړې او کوي يې چې د خپلې نيابتي ډلې داعش له لارې د افغانستان په شيعه اقليت، په ځانګړې توګه د هزاره قوم، پر وړاندې ځينې اقدامات ترسره کړي؛ خو اسلامي امارت په چټکۍ سره دا وضعيت کنټرول کړ او تر ډېره يې د دوی ناولې ارادې له خاورو سره خاورې کړې.
د پاکستان د استخباراتي ادرسونو له لوري د افغانستان په اسلامي امارت دا تور پورې کول؛ چې دوی په پاکستان کې فرقه ييز تاوتريخوالي ته وده ورکوي، کاملاً بې بنسټه او له حقيقت څخه لرې دي، اسلامي امارت په روانو حالاتو کې د ډله ييزو اختلافاتو د ختمولو او مذهبي يووالي د ملاتړ لپاره عملي ګامونه پورته کړي دي.
د دې پر ځای چې پاکستان پر نورو تورونه پورې کړي، ورته پکار ده چې د خپلو ناکامو پاليسيو څخه عبرت واخلي او د اسلامي امارت له برياليو تجربو زده کړه وکړي.
د پاکستاني ادارو پاليسي، که کورنۍ وي يا بهرنۍ؛ په بيا بيا د ناامنيو او بې ثباتۍ لامل ګرځېدلې ده، د دوی سياسي مداخلې، د فرقه ييزو ډلو سره اړيکې او غير شفافې پاليسۍ يې د هېواد لپاره بې شمېره ستونزې را ولاړې کړې دي.

## په امريکا کې د بشپړ امنيت د شتون په اړه ناسم روايتونه !

**ليکنه:اعجاز ايمن**

امريـکا چـې ځـان د نـړۍ د امـن مرکــز ګڼـي او د نـورو هېوادونـو د نـا امنـۍ لپـاره هڅـي کـوي؛ پـه خپـل کـور کـې يـې ترهګـر روزلـي او خپـل سياسـتوال او ولسمشـران نـه شـي خوندي ساتلای.

د امريـکا کرغېړن سياست او خپـل هېواد تـه د امن ور ښـکاره کـول؛ اوس رسـوا شـوي، بولـو تـه ښـکاره شـوې ده، چـې امريـکا تـر ټولـو نـا امنـه او خطرناکـه سـيمه ده، ځکـه چـې سياسـي مشـران يـې او هغـه کسـان چـې پـه خپـل هېـواد کـې، د سياسـت پـه ډګـر کـې د وينا حق لري؛ تر ټولو د غوره امنيتي تدابيرو با وجود هم خوندي نه دي.

ځينـې وختونـه د دوی غوړونـه پـه خطـر کـې وي او ځينـې وختونـه بيـا د دوی سـرونه او غـاړې له ګوزار او زيان سره مخ وي.

د خبـرو اصلـي مطلـب دا دی؛ چـې امريـکا سـره لـه دې چـې د نـړۍ پـه کـوټ کـوټ کـې د امنيـت د خپرولـو دعـوه کـوي او د ترهګـرۍ د شـتون پـه پلمـه، پـه نـورو هېوادونـو کـې مداخله کـوي، خپله په بشپړه توګه په نا امنۍ کې ښکېل ده.

په حقيقـت کـې په امريـکا کـې امنيت شـتون نـه لـري، بلکـې لـه دې ځايـه چـې د عامـه رسنيو کنټرول د دوی په لاس کې دی؛ د امنيت يوه دروغجنه کيسه وړاندې کوي.

پـه امريـکا کـې د واقعيـت او د رسـنيو د کيسـو ترمنـځ لـوی واټـن دی، د امريـکا حقيقـت او اوسـنی حالـت ډېـر خطرنـاک دی، چـې د ژونـد کولـو لپـاره نـا سـالم او نـا مناسـبه هيـواد او چاپيريـال دی، خـو غرضـي رسنـۍ د خپلـو دروغجنـو روايتونـو پـه مرسـته، دا حقيقـت بـل ډول وړانـدې کـوي او دا سـيمه چـې د نـړۍ د نـا امنـۍ مـور ګڼـل کېـږي؛ د امـن او امـان کور ښيي.

په حقيقـت کـې، خلـک د امريـکا پـه اړه د دوو مفاهيمـو تـر منـځ تېروتنـه کـوي؛ امنيت او د امنيت احساس...

کېدای شـي پـه تېرو وختونـو کـې پـه امريـکا کـې تـر يـوه حـده امنيـت موجـود و؛ خـو د امنيـت احسـاس پـه هېـڅ ډول شـتون نـه لـري، ځکـه چـې د هغـه هېـواد هېـڅ وګـړی پـه سـمه

توکه دا احساس نه درلوده او نه یې لري.
یوازې یوه ډله چې د ځان لپاره یې د امن احساس درلود؛ د امریکا سیاستوال و، خو په دې وروستیو کې دا هم ثابته شوه، چې دا ډله هم د امنیت احساس نه لري او یوازې د دې لپاره چې دا سیمه خوندي ښکاره کړي او د نړۍ په ښکاره نا امنو هېوادونو کې، د مداخلې لپاره یو سم دلیل پیدا کړي؛ دا مفکوره چې (امریکا خوندي ده) تقویه کوله.
ډونالډ ټرمپ، چې د دې هېواد د ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماند دی، په تر ټولو بد امنیتي وضعیت کې قرار لري، له هرې خوا پرې بریدونه کېږي، خو همدغه کسان بیا په دې باور دي، چې په افغانستان او نورو هېوادونو کې امنیت راوستل غواړي او د دې لپاره باید د دې هېوادونو په چارو کې مداخله وکړي.
په داسې حال کې چې باید تري وپوښتل شي: څه شي تاسو دومره بې شرمه کړي یاست؛ چې خپل عیب نه وینئ او د نورو د عیبونو په ښکاره کولو پسې گرځئ؟
په امریکا کې روانه فضا خړه، په وېره او وحشت کې ده، نو څنگه کېدای شي چې دا واکمنان د نورو خلکو لپاره رښتینی امنیت او آرامي رامنځته کړي؟

امریکا چې ځان د نړۍ د پرمختللو او ازادو هیوادونو په لړ کې گڼي، تل د امن و امان دعوې کوي. خو حقیقت دا دی چې امریکا په خپلو کورنیو چارو کې د فساد، جرایمو، نژادپرستي او پولیسو ظلم سره مخ ده. د هر کال زرگونه امریکایان د پولیسو له لوري وژل کیږي، په ځانگړې توگه اقلیتي قومونو لکه افریقایي امریکایانو ته. د امن و امان په نوم د امریکا حکومت له یوې خوا خپلو خلکو ته امنیت ورکولو دعوې کوي، خو له بلې خوا یې د نژادي تبعیض، اجتماعي بې عدالتیو او جنگي جنایتونو سره ځان ښکاره کوي. د نړۍ په مختلفو برخو کې د دې هیواد مداخلې او جگړې د بشري حقونو جدي نقضونه جوړ کړي دي.

# امریکا د نړۍ تر ټولو نا امنه هیواد

لیکنه: عثمان خالد

په عامه اصطلاح؛ نا امني دې ته ویل کېږي، چې یو څوك په دیني، اجتماعي، انفرادي او سیاسي توګه محفوظ نه وي، کله چې په یوه ټولنه، جغرافیه، خاوره او هیواد کې همدا پورتنی حالت را منځته شي؛ نا امنه ګڼل کیږي.
په نړۍ کې داسې ډېر هیوادونه او ټولنې شته چې بې امنه دي، خو هغه هیوادونه چې خپل پخوانی ریس جمهور او اوسنی ریاست جمهوري ته نوماند، پکښې محفوظ نه وي او تر مرګونو حملو لاندې وي؛ د نورو ټولو هېوادونو په پرتله، نا امنه بلل کېږي.
د امریکا متحد ایالات د امنیت په پرتله؛ په اوسني دور کې د نړۍ تر ټولو نا امنه هیواد دی، هغه هیواد چې په انفرادي او اجتماعي لحاظ لا له وړاندې تر تهدیداتو لاندې و؛ اوس له سیاسي اړخه هم نا امنه دی.

ولې؟

د امریکا پر پخواني ولسمشر دا دویم ځل دی، چې مرګوني برید کېږي، خو امریکا ستر کې سپینې نیولې دي، بلې خوا ته په اسلامي هیوادونو کې، چې له هره اړخه با امنه دي؛ د ترهګرۍ خبرې کوي.
امریکا په عراق، سمالیا، سوریه او افغانستان کې په زرګونو بې ګناه خلك د ترهګرو په نوم ووژل، کویټ ته یې له صدام حسین څخه د خلاصون ټټر وهلی و، همدا اوس سعودي عربستان او نورو متحدینو ته؛ د دوی د امن د ټینګولو لاپې وهي، خو په خپل ملك کې یې رییس جمهور په امن کې نه دی.
په امریکا کې، هره ورځ په زرګونو خلك په نشه یي توکو روږدي کېږي او بیا په لارو، سرکونو او مارکېټونو کې تري هیڅ څوك په امان نه وي، په امریکا کې څوك د مسلح غلو له امله؛ ۶۰۰۰ ډالر په جیب کې نه شي ګرځولای.
خو امریکا اوس هم په نورو ملکونو کې، د ترهګرو په نوم عام او بې ګناه انسانان وژني او د لاس پوڅو له لارې یې خلکو ته ورفهموي، چې امریکا زمونږ د امنیت او د اقتصاد د لا پیاوړي کولو لپاره زمونږ دوست او ملګرې ده.

# پنځم فصل
# بېلابېلې لیکنې

# د شر و فساد او داعش خوارجو ترمنځ مشترکه وجه

لیکنه: شهاب مایار

معمولا د دوه ډلو ملکرتیا د هغوی د مشترکاتو له امله وي، یا به مشترکې وجې لري او یا به مشترکې کتې؛ د داعش فتنه ګر او د شر او فساد د ډله ځینې مشترکې وجې او مشترکې کتې لري.

د دوی مشترکه وجه یو خو خیالي خراسان دی، د خراسان ولایت دوی په خیال کې ترسیم کړی، مګر په ځمکه کې نشته، دا خلك د ځمکني واقعیتونو او عقلي حواسو په ځای د هوایي سوچ خاوندان دي؛ ځکه خراسان پخوا د ماوراء النهر، بخارا، افغانستان او اباسین پورې ځمکه وه چې د بغداد له خلافت څخه اداره کېده.

دغه خلك ولې یواځې افغانستان کې د خراسان لپاره را پورته کېږي؟ خراسان خو ایران، تاجکستان، پاکستان کې شامله سیمه وه، دوی ولې ایران کې نه راپورته کېږي؟ دوی ولې تاجکستان کې ځان دربې نه کوي؟ ولې پاکستان کې عرض اندام نه کوي؟ دوی ولې یواځې په افغانستان کې خراسان لټوي؟

دا هغه پوښتنې دي چې د دوی له پروژوي اهدافو پرده پورته کوي؛ د دوی د جګړو تر شا د غربي استخباراتو او د سیمې د هېوادونو ستراتیژیك اهداف پټ دي.

او دوی د غربیانو او سیمه ایز حریصانو نیابتي ډلې دي؛ د سیمې عمق ستراتیژي عبارت دی له:

الف: د سیمې د هېوادو کټه دلته د نظام په نشتون کې ده.

ب: دوی غواړي کمال خان، سلما او د فراه بندونه او آب ګردانونه ونړېږي.

ث: دلته دې د دوی نفوذ خوندي وي.

ج: زموږ تولیدات او بندرونه د دوی په ولکه وي.

د: او دلته د دوی نیابتي ډلې غیر مرکزي اداري ولري او افغانستان د ملوك الطوايفي او د قوماندان بازۍ په تراژیدیو کې په غم اخته کاندي.

د نړۍ عمق ستراتیژي څه ده؟

الف: هغوی غواړي چې منطقه کې فعال نظامي ډلې ولري ترڅو چین، ایران، روسیه

او د منځنۍ اسیا هېوادونه پرې تهدید کړي.

ب: هغوی غوارې چې د افغانستان لیتیم، د پنجشیر زمرود او د بدخشان لال په تاراج یوسي؛ د افغانستان د ذخایرو/معدنونو په مالي امکاناتو هم خپل چریکان وچلوي او هم منطقه کې خپل رقیبان مهار کړي.

ج: غربیان غواړي خپلې جګړې د خپل د هېوادونو له پولو ډېر لرې انتقال کړي.

پورته لاملونو ته په کتو دا خلك د مشترکې وجې له پلوه د استخباراتي ډلو نیابتي چریکان دي او یوه مشترکه لویه پروژه ده چې خپلې جګړې کله په مذهبي نامه او کله په فرهنګي نامه مخ ته وړي.

په مذهبي حوزه کې داعشي چریکان شته او په فرهنګي حوزه کې د شر او فساد ډله ده؛ داعشي خوارجو ته بیا د تبلیغاتو خام مواد د تحریر ډله برابروي؛ دا خلك د یوې لویې جګړې په موخه تربیه کېږي، ترڅو یوه لویه فتنه په دې مسلمانه خاوره را نازل کړي.

د وطن مسلمان او خواخوږي زامن باید خپل ټول ملاحظات او کوچنۍ کیلې یوې خوا ته کړي د خپل اسلامي او ملي کتو لمن دې ټینګه ونیسي ترڅو دا لویه دسیسه شنډه شي.

د شر او فساد ډلې باغیان او داعشي خوارج دواړه د باطل لارې پیروان دي، چې د اسلام سپېڅلي احکام د خپلو ناروا اهدافو لپاره تحریفوي. دواړه د وینو تویولو، فتنې خورولو، او په افغانستان کې د حاکم یواځیني اسلامي نظام د کمزوري کولو وسیله ګرځېدلي دي.

داعش خوارج د تکفیر او افراط له لارې امت تجزیه کوي، پداسې حال کې چې شر او فساد د کفري نظامونو، استعماري قوتونو او د هغوی د اجیرانو لخوا د اسلامي ارزښتونو او شرعي نظام د له منځه وړلو لپاره کارول کېږي.

# له انسي خدايانو باغي ملته ! آزادي دې تاته مبارک وي !

لیکنه :احمد منصور

لـه عثمانـي خلافـت را پـه دې خـوا کـه شـرقي او غربـي باطلـو امپرطوريـو هـر هېـواد مسـتقيم يـا غيـرې مسـتقيم اشـغال کـړی او بيـا تـرې وتلـي هـم دي، خـو اثـرات يـې لا باقـي پاتـې دي. لکـه سـتر هنـد لا هـم د انګريـز تـر تاثيـر لانـدې دی، ترکيـه کـې د غربـي اجيـر اتاتـرك د باطلـې مفکـورې اثـرات شـتون لـري او تاجکسـتان اوس هـم د روسـيې کامـل مسـتعمره ده او داسـې نـور... خـو افغانسـتان واحـد هېـواد دی چـې نـه يـې د يـادو قوتونـو اجيرانـو تـه وخـت ورکـړ، نـه يـې مسـتقيم فزيکـي شـتون ومانـه او نـه يـې لـه فکـري اشـغال متاثـره شـول، برعکـس پـه ورانـدې يـې داسـې شـديدې مبـارزې وکـړې چـې دېـر هېوادونـه يـې د دريـو امپرطوريو انګريز، روس او امريکا له فزيکي وجود هم پاك کړل.

افغـان مجاهـد اولـس د مبـارزې پـه دا دومـره جريانـو کـې تکيـه پـه وسـايلو نـه، پـه واحـد ذات وکـړه، کـه څـه هـم نـړۍ افغانـان ليونيـان بلـل خـو غيرتـي رب خپـل سـاجدين بنـدګان تنهـا پرېنښـودل، خپلـې د نصـرت وعـدې يـې رښـتونې او مؤمنـو افغانانـو تـه يـې لـه اشـغال او فساد څخه د نجات تولې لارې وښودې.

د افغانانـو د مسـتعمره کولـو ورورسـتی هڅـه امريـکا+ ناټـو وکـړه، نـه پوهېـږو چـې دوی افغـان ملـت مطالعـه کـړی نـه وو، کـه خپلـه ټکنالـوژي ورتـه د خپلـو اهدافـو د لاسـته راوړو اطمنانـي وسـيله ښـکارېده، يـاده دې وي چـې د طمعـې خلاف يـې دلتـه هـر څـه وختـل، افغـان اولـس د خپـل معنـوي رهبـر اميرالمؤمنيـن ملا محمـد عمـر مجاهـد (رحمـه الله) تـر قيـادت لانـدې د وخـت د احزابـو پـر ضـد يـوه داسـې تاريـخ سـازه مبـارزه وکـړه، چـې د امريـکا ټـول هغـه قومندانـان چـې نظامـي زده کـړې يـې تـر دوکتـورا پـورې کـړې وې پـه مهارولـو کـې يـې پـره شـول، هغـه ټکنالـوژي چـې د زمکـې لانـدې د اشـياؤ د ليـدو دعـوې يـې کولـې ويلـې شـوه، د فکـري يرغـل برخـې تـه يـې کـه څـه هـم پيـاوړې تبليغاتـي دسـتګاه درلـوده خـو د افغـان مجاهـد اولـس جهـادي صـف يـې متزلـزل، لـه خپلـې برحقـې داعيـې منحـرف نشـو کـړای، هغـه قـوت چـې يـو وخـت يـې افغانسـتان د نـړۍ لـه نقشـې د ورکـې خوبونـه ليدل، داسـې وخـت راغـی چـې د خپلـې ماتـې د پټولـو پـه هـدف افغانانـو سـره

په مېزد خبرو کولو لپاره کېناست، ټول شرايط يې ومنل او ترون ته اړ شو.
د دوحې ترون تاريخ ساز ترون وو چې کفر د اسلامي صف ځواك، تدبير، سياسي درايت او ايماني قوت ومانه، بالاخره يې د اجيرې ادارې او ملېشو هم روحيه وځپل شوه، له شمال د فتحو لړۍ پيل او دولسو ورځو کې افغان مجاهد لښکر په څلورويشتم د اسد په کابل سپين توغ ورپاوه، دا دی د همغې پرتمينې فتحې دريم تلين راتلونکې چهارشنبه چې د څلورويشتم د اسد سره برابره ده لمانځو. ان شاءالله

سرښندونکی ملته !

ستا عزم ته سلام، راتلونکي د آزادۍ ورځ ستا د ستړياوو، شبګيرو، زامنو، لمسيانو، ورونو، وريرونو او ثابتو کورنيو د قربانيو ثمرده، ډېر هېوادونه سره له پرمختللو وسايلو او شته فوځونو باوجود د غلامۍ زندګي لري، خو ته د آزادۍ له نعمت برخمن يې، دا هر څه لومړی د خدای لورونه او بيا دې د ټولو تکاليفو تېرولو مثبته پايله ده.

راځئ ! ياده ورځ په شرعي حدودو کې په کاملو ولولو او جذبو ولمانځو، څو نړۍ ته وښايو چې مونږ د آزادۍ لپاره چې څومره قربانۍ ورکړې، ساتنې ته يې هم هماغه روحيه لرو، شهيدانو ته خپله وفا، يتيمانو، بورو ميندو، کونډو او خويندو ته وښايو چې ستاسو د بچيانو، خاوندانو، پلرونو او ورونو وينې هدر نه دي تللي، دا دی مونږ او تاسو ته يې کامله خپلواکي رابښلې او خپله د رب لقاء ته ورغلي، مونږ د دنيا او اخرت ګټه حاصله کړې، دنيا کې له اسلامي نظام/ آزادۍ برخمن او اخرت کې د ټولو تکاليفو احسنه بدله به رب راکوي، شهيدان به مو شفاعت کوي ان شاء الله.

نو اې له انسي خدايانو باغي افغان ملته ! دا آزادي دې تاته مبارك وي.

# سايبري جګړې او پايلې يې !

ليکنه: ابو هاجر الکردی

څو ساعتونه وړاندې، د الجزيرې ټلويزيوني شبکې له قوله؛ په لبنان کې د ۲۷۰۰ څخه زيات کسان د اړيکو او د پيغام ليږدونې وړ آله (پيجر) په چاودنه کې په څو ښارونو کې په يو وخت ټپيان شول؛ په داسې حال کې چې رسنيو د ځينو اسرائيلي مقاماتو له قوله ويلي: دغه پېښه د حزب الله په وړاندې د اسرائيلو سايبري جګړه ده.

## خو سايبري جګړه څه شی ده؟

سايبري جګړه هغه نښتو ته ويل کېږي چې پکې له ډيجيټل او انټرنيټي وسايلو څخه د بريد او دفاع لپاره کار اخيستل کېږي.

دغه ډول جګړې د حياتي بنسټونو پر ضد بريدونه، د آنلاين خدمتونو ګډوډې، د استخباراتي سيستمونو او انټرنيټي چينلونو ته نفوذ کول دي.

د سايبري جګړو پيل د ۱۹۹۰م او ۲۰۰۰م لسيزو په پيل کې شوی، هغه وخت چې د انټرنيټ او ډيجيټل وسايلو کارونه زياته شوه، سايبري ګواښونه هم په چټکۍ سره زيات شول.

د دغو جګړو يوه بله ځرکنده بېلګه سايبري بريدونه په عصري جګړو او نړيوالو نښتو کې دي چې پکې له ډيجيټل وسايلو څخه د رقيبانو د زيانمنولو لپاره کار اخيستل کېږي.

دغه جګړه په نړيواله کچه په چټکۍ سره پراختيا مومي او مختلفې بڼې لري:

### ۱ تاريخچه او سابقه:

۱۹۹۰م لسيزه: د انټرنيټ او معلوماتي ټکنالوجۍ په پراختيا سره، سايبري بريدونه د يوه نوي ګواښ په توګه ځرګند شول. په دې وخت کې، هکرانو او خپلواکو ډلو لومړني بريدونه لکه وايرسونه او ورمونه (زيان رسوونکي پروګرامونه) پيل کړل.

۲۰۰۰م لسيزه: سايبري بريدونه نور هم پيچلي شول او مختلف هېوادونو د سايبري امنيت ځانګړي واحدونه جوړ کړل. د سايبري بريدونو د لومړيو مهمو بېلګو څخه يوه؛ د ۲۰۱۰م کال سټکسنټ بريدونه وو، چې د ايران اتومي تأسيساتو ته يې زيان واړاوه.

۲ د سایبري بریدونو ډولونه:

بریدونه :DDoS (Distribute Denial of Service) په دې ډول برید کې، د زیات ډیټا (ټرافیک) استولو په واسطه، د سرورونو خدمتونه ګډوډېږي.

شبکې ته نفوذ: پدې کې د مختلفو لارو چارو له لارې د دولتي یا مؤسسو معلوماتو او سیستمونو ته غیرقانوني لاسرسی شامل دی.

وایرسونه او زیانجن سافټویرونه: هغه زیان رسوونکي پروګرامونه دي چې د کمپیوټري سیستمونو د زیانمنولو لپاره ډیزاین شوي وي.

۳ موخې او پایلې:

موخې: کېدای شي د حیاتي بنسټونو ګډوډي، د اساسو معلوماتو غلا، د عامه بې اعتمادۍ رامنځته کول او د حکومتونو یا شرکتونو باور ته زیان رسول شامل وي.

پایلې: اقتصادي زیانونه، د باور زیان، د عامه خدمتونو ګډوډي او په ځانګړو مواردو کې د سیاسي او نظامي کړکېچونو زیاتوالی.

۴ دفاع او مخنیوی:

د سایبري امنیت تګلارې جوړول او د هغو تطبیق: هېوادونه او مؤسسې د خپلو معلوماتو او سیستمونو د ساتنې لپاره د سایبري امنیت پالیسۍ او معیارونه جوړوي.

پوهاوی او روزنه: د سایبري ګواښونو په اړه د کارکوونکو او کاروونکو روزنه او د مخنیوي لارو چارو پوهاوی.

۵ سایبري جګړې او نړیوال سیاست:

په اختلافاتو کې د سایبري وسایلو کارونه: هېوادونه کېدای شي د سایبري بریدونو څخه د نړیوالو اختلافاتو او جګړو په وخت کې د ستراتیژیکې وسیلې په توګه کار واخلي.

نړیواله همکاري: د نړیوالو سایبري ګواښونو د مخنیوي لپاره، نړیوالې همکارۍ او د هېوادونو او نړیوالو مؤسسو ترمنځ د معلوماتو تبادله زیاته شوې ده.

سایبري جګړې په ډیجیټل عصر کې، په یوه حیاتي او پیچلي حوزه بدله شوې چې د نړیوال امنیت او پالیسۍ ځانګړې پاملرنې ته اړتیا لري.

## مسؤلین: د داعشي خوارجو له بهره پلان شویو بریدونو کې شهادتونه به مور. کمزوري نه کړي

**لیکنه: المرصاد اداره**

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر د شهید خلیل الرحمن حقاني د جنازې په مراسمو کې ویلي چې د داعشي خوارجو له لوري په تېرو څه باندې اوو میاشتو کې ټول ترسره شوي بریدونه له افغانستانه بهر پلان شوي دي.
مولوي امیر خان متقي په خپلو څرګندونو کې ویلي چې داعشي خوارج او دښمنان به امارت په شهادتونو کمزوری نه کړي، ځکه چې هر وزیر او هر فرد شهادت د ځان لپاره افتخار او کامیابي ګڼي. متقي د داعشیانو په مستقیم او غیرمستقیم ملاتړ کې پر د خپلو هیوادونو غږ کړی چې په خپله خاوره کې د داعشیانو په شتون سترګې پټې نه کړي. د نوموړي په وینا، "دا فتنه ګره دله د ټولو په تاوان ده، داسې ظالمانو ته اډې مه ورکوئ، داسې ظالمان تر خپل لستوني لاندې مه ساتئ."
د بهرنیو چارو وزیر په خپلو څرګندونو کې زیاته کړې چې د خلیل الرحمن حقاني په څېر صادقانو په شهادت رسول حتما اثرات لري، "او په اور کې به یې هغه څوك بیا سوځي څوك چې داسې خلکو ته مراکز ورکوي، ساتي یې، پر شا یې ټپوي او مخه یې نه نیسي."
همدارنګ د کورنیو چارو وزیر خلیفه سراج الدین حقاني په خپلو خبرو کې ویلي چې دوی د شهید خلیل الرحمن حقاني د شهادت انتقام خدای جل جلاله ته پرېږدي، ځکه چې د دوی جهاد او مبارزه یوازې د خدای جل جلاله لپاره ده او کوم شخصي غرض پکې نه لري.
د خلیفه صاحب په خبره، "زه صرف په دې خفه یم چې دا کمزوری عمل چې چا وکړ، کاش ده دا سوچ کړی وای چې حاجي صاحب خلیل خو د کفارو دښمن و، پنځه میلیونه ډالره جایزه امریکایانو وربانډې ایښې وه، د مسلمانانو دښمن نه و. تاسې څه داسې غټه کامیابي ترلاسه کړه چې یو مسلمان مو شهید کړ او دا د ځان لپاره افتخار بولئ؟"

د یادونـې وړ ده، تېـره چهارشـنبه د افغانسـتان د اسلامـي امـارت د کډوالـو چـارو وزیـر خلیـل الرحمـن حقانـي د ماسپښـین تـر لمانځـه وروسـته متصـل د یـوه داعشـي لخـوا پـه برید کـې پـه شـهادت ورسـېد. د شـهید جنـازه پـرون د پکتیـا پـه ګـردې څېـرې ولسـوالۍ کـې پـه خپـل پلرنـي کلـي کـې، لـه کـوم ځایـه چـې یـې د دوو کفـري امپراتوریـو پـر ضـد جهـاد پیـل کـړی و، ترسره شوه او همالته خاورو ته وسپارل شو.

❖❖❖

د "الحمزه" استشـهادي کنډک مؤسـس او د استخباراتو لوی ریاست لومړی مرستیال،

**الحـاج ملا تاجمیر جواد حفظه‌الله**

"مـوږ استشـهادیان وو، استشـهادیان یـو، او استشـهادیان به پاتې کیږو !

د اسلامـي نظام د ساتنې لپاره هره لحظه قربانـۍ تـه چمتـو یـو، نـه سـترې کیـږو،

نه ښېرېږو،

او نه شـاته کیږو.

ارمغان فکري

## د تورتم فتنه

خوارج د مسلمانانو پر ضد وسلې پورته کوي، حال دا چې هغوی د کفارو
پر ضد کمزوري او خاموش وي.

دلیل: نبي ﷺ فرمایلي:

"یقتلون أهل الإسلام ویدعون أهل الأوثان" (بخاری: ,,,,، مسلم: ,,,,)

(مسلمانان به وژني، خو مشرکین به پرېږدي.)

نن ورځ داعشي خوارج هم د مسلمانانو، مجاهدینو، علماوو او بې‌ګناه خلکو قتل
ته متوجې دی، خو د کفارو په خلاف یې هېڅ عملي اقدام
نه تر سترګو کېږي.


@Almirsad_Pashto t.me/almirsadpashto

https://almirsaad.com/